

دریاب دات نت
Ketabton.com
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# تلوسې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ډاکټر خالق زیار

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

**د کتاب نوم:** تلوسې

**شاعر:** ډاکټر خالق زیار

**چاپ:** وړومبی

**کال:** ۲۰۰۸

**شمېر:** ۱۰۰۰

**بیه:** ۱۲۰

**ټائټل او کمپوز:** عبدالله وردګ (۰۳۴۵-۹۱۲۴۰۲۳)

**خوروونکي:** پښتو ادبي جرګه ملاکنډ

د چاپ خانې

---

**درکونه:** یونیورسټي بک ایجنسي

سلیم جالوان- افتخار مارکیټ درګۍ بازار

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# ترون

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د خپل مشر ورور

ارواښاد عبدالکمال په نوم چې مونږ کشرانو

ورونو به ورته شهزاده وئیل .

ketabton.com - The Digital Library

# د ډاکټر خالق زیار نور چاپ کتابونه

دریاب ډاټ نیټ

**۱ دا خاوره او دا خلک**

لیک رمزي او مک مهن

ترجمه ډاکټر خالق زیار

DARYAAB.NET

**۲ د پښتنو بغاوتونه**

لیک ووسنام ملز

ترجمه ډاکټر خالق زیار

**۳ مات ځانګونه (ناول)**

لیک خلیل جبران

ترجمه ډاکټر خالق زیار

**۴ تلوسې (شاعري)**

هم دا کتاب

ketabton.com - The Digital Library

# د ډاکټر خالق زيار د شعر د تصوير رنګونه

شاعري د محسوساتو، کيفيتونو، جذبو، شعور او لاشعور، ادراک او خيال، سوال او جواب، رنګ او رڼا، د شلګونو رنګونو نه د جوړې هغه آئينې نوم دے په کومه کښې چې مونږ ته د خپلې دغسې هرې خبرې عکس په نظر راځي. د يو شاعر خپل قلبي او دنني حالات چې د يوې فن پارې شکل واخلي نو دا نه يوازې د شاعر د خپلې تجربې او مشاهدې نچوړ وي بلکې دا د خپلې ټولنې د دود دستور، د هر رنګ او هرې تجربې نه را تروړلے شوي هغه مواد وي کوم چې زمونږ د شريکو جذبو او شريکو تجربو په ټولنيزو نفسياتو کښې موجودګي لري. يو خيال که ډېر هم وړوکے او محدود وي چې د فن پارې وجود ته راشي او تر مونږه راورسي که هغه په خپلو ټولو لوازماتو پوره وي نو مونږ ته اپيل وکړي او د هغې نه پس چې مونږ

ketabton.com - The Digital Library

د هغې فن پارې په وجود غور کوو نو زمونږ د غور او فکر پېمانې چونکې د يو فنکار د خيال نه بدلې هم وي، بل شان هم وي. بسار هم وي نو دغه فن پاره او د فن پارې دننه دغه وړوکے خيال د يو شاعر د خيال نه او د هغه د توقعاتو نه هم ډېر او وسيع شي.

يا به داسې ووايو چې تخليق د احساس يوه طرز اراده چې د هنر د ګوتو په ګرفت کښې راځي نو دا شايد چې بختوره لمحه وي چې يوې فن پارې ته شکل و صورت وبخښي. هر خيال راځي خو د بهر نه خو تخليق کارئې د هنر کارۍ په وخت د اندرون په بې حسابه رنګونو کښې ډوب کړي تر هغې چې رنګونه ئې معنې او معنې رنګونه شي. په اصل کښې هر لفظ يو تصوير وي. دغه لفظونه چې د ګڼو تصويرونو په صورت کښې د يو خيال اداکولو دپاره شاعر فقط يوې معنې ته سپارلے وي. خو دا چې نورو خلکو ته رسي نو ځکه ګڼې معنې پېدا کوي چې دا د ګڼو تصويرونو يو وحدت ته راغلي وي. هر

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

چا چې دا خبره کړې ده چې شعر په یو وخت په مونږه خپلې تولې معنې نۀ ظاهروي سمه ئې کړې ده. وجه ئې هم دغه ده چې هر لفظ کۀ یو تصویر دے نو دغه تصویر د هر چا په ذهن کښې په خپل شکل کښې موجود دے او چونکې شعر د ګڼو تصویرونو یوه مجموعه وي، د دغې مجموعې ګڼ سیوري زمونږ په بېلو بېلو ذهنونو کښې ګڼ خیالونه پیدا کوي. خو د وحدت تاثر ئې یو څکه وي چې دغه شعر زمونږ د شریک ژوند ژواک او شریکو جذبو د اظهار داسې ژبه لري په کومه چې مونږ پوهېږو. د مثال په طور:

زۀ پښتون یم تۀ ښائسته ئې دا پوره ده
په دنیا کښې خو جلال دے یا جمال دے

اصل کښې خو شاعر یوه وړه او اسانه خبره کړې ده چې د یو مئین په حېث محبوب ته وائي چې بس زۀ پښتون یم او تۀ ښائسته ئې نو دا ډېره ده. یوازې ډېره نۀ ده یو خو دا چې مونږ دواړه د مینې شرایط پوره کولے شو یا مو پوره کړي دي ولې په دنیا کښې د جلال او جمال نه اخوا نور څۀ کېدے شي.

ketabton.com - The Digital Library

دا خبرې مونږ یا د واورېدې یا مو ولوستې. د شاعر یا مئین خبره پوره شوه خو د دغې شعر دغه لفظونه چې ځان له ځان له تصویرونه دي دا مونږ ته دغې نهٔ پرېږدي ځکه چې هغه د پښتون د جلال خبره کوي او د محبوب د جمال. دا دواړه لفظونه زمونږ د خپل خپل ذهن دننه د جوړو شوو تصویرونو په شکل کښې ژوندي کېږي او مونږ ته لمسه کوي، چې دا مینه ځنګه او کله جوړه شوه، دا سوال او جواب په کوم وخت کښې ضروري شو، ولې ضروري شو، محبوب به د دې جواب کړے وي. کهٔ نهٔ کهٔ ئې کړے وي نو په پته خولهٔ، موسکو شونډو او مړاوو سترګو به ئې کړے وي کهٔ ځنګه؟ کهٔ په خوله ئې جواب کړے وي نو هغه جواب په دې شعر کښې موجود ولې نهٔ دے؟ او د دې قسمه بلا سوالونو سره سره زمونږ په ذهن کښې دا سوال هم پیدا کېږي چې د جلال او جمال په متضاد معنو کښې دا وحدت ځنګه پیدا شو؟ او کهٔ مونږ د شعر دننه هر لفظ د خپل تصویر سره نورو سوالونو پیدا کولو ته

دریاب دات نیت
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

وسپارو، نو هغه دا چې زۀ پښتون يم، د سړي په ذهن کښې چې د پښتون جاه و جلال، د هغۀ کړۀ وړۀ، د هغۀ رنګ يا شډل پن، يا ننګ او غيرت، مينه او وفا، سترګې او د کتو انداز، تندے او پکښې کربښې، بې مسکا شونډې او بې نيازه سنجيدګي او داسې نور ډېر څيزونه چې زمونږ په ذهنونو کښې جوړېږي او سوالونه پيدا کوي آيا دا ټول تصويرونه په صرف "زۀ پښتون يم" کښې موجود دي او آيا دا د شاعر په خيال کښې وو چې صرف د "زۀ پښتون يم" ويلو سره به د لوستونکو په ذهنونو کښې پيدا کېږي؟ تۀ ښائسته ئې دا ښائست چې زمونږ په ذهنونو کښې کوم تصويرونه جوړوي آيا دغه تصويرونه د شاعر يا مئين په ذهن کښې موجود وو يا موجود دي؟ ځکه چې شاعر خو صرف دومره وئيلي دي چې په دنيا کښې نور څۀ دي يا جلال دے او يا جمال دے. شاعر خو خپله خبره صرف په جلال او جمال ختمه کړې ده او يوه پرېکړې خبره ئې کړې ده خو د جلال او جمال چې کوم

ketabton.com - The Digital Library

تصویرونه زمونږ په زړونو او ذهنونو کښې جوړېږي شاید چې شاعر یا مئین په خپله هم د هغې د وسعت نه بې خبره دے. هم دا د لفظ د تړلو او فن پارې تخلیق کولو کمال وي چې مونږ د خیالونو فکرونو یو داسې سمندر ته غورځوي چې هېڅ کناره نۀ لري. د هرې خبرې خپل منطق او حدود وي. هره فلسفه د دغې منطق او حدودو دننه خپل کار او عمل کوي ولې د فن کمال دا وي چې دے چې کومه پوهه کومه فلسفه مونږه ته راکوي د دې د حدودو هېڅ د ناپ او تول نظام موجود نۀ دے. د دې په وسعت کښې سړے ورکېږي هم او وجود هم پکښې لري، یعنې پکښې موجود هم وي. فن سړے د عمر په اخري حد کښې هم نوے وزېږوي، دا کار د بل هېڅ علم او هېڅ فلسفې په وس کښې نۀ دے.

ما چې د خپلو خبرو د وضاحت دپاره کوم شعر رانقل کړے ؤ، دا د ډاکټر خالق زیار شعر دے. دا زۀ چې کومې خبرې لیکم د ډاکټر خالق زیار د کتاب د سریزې دپاره ئې لیکم. ډاکټر خالق زیار

ketabton.com - The Digital Library

څنګه سړی دی؟ د سړي په حېثيت هغه يو عالم فاضل، پوهه خوږمن او دردمن او شريف سړی دی، د هغه مينه د انسان نه علاوه د وطن، قام اولس او ترقۍ او خوشحالۍ سره ده. د دې مقاصدو دپاره هغه دم قدم او ساه ساه د خپلو وطن والو او د ژوند د قافلو د ملګرو سره شريکوي. هغه د ژوند ژواک په ټول ساز باز پوره سړی دی خو فن ته د ښه سړيتوب نه زيات ضرورت د فنکارانه تصوراتو وي نو مونږه به ښاغلی ډاکټر د خپل فن په آئينه کښې ګورو. نو زه ډاکټر صيب د يو شاعر او فنکار په حېثيت د نوي سرنه نه پېژندلګو کووم هغه په خپله په ادبي او فني دنيا کښې پوه ښکاره پېژندګلو لري.

هغه يوازې تخليق کار نه دی. د شعر و ادب يو ښه کوتلی نقاد هم دی. قدرتي طور تنقيدي نقطهٔ نظر سره متفق کېدل نه خو په پښتنو کښې روايت دی، نه رسم دی او نه کومه خوبي ګڼلې شي بلکې خامي ګڼلې شي خو د هغه انداز په دې حقله د يو حده پورې مثبت هم دی.

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټر صيب په نن او سبا کښې خپل کتاب حصار کړو خو اخر کار ئې دې ته غاړه کښېښوده چې کتاب چاپ کړي او ځان خپلو لوستونکو يا اورېدونکو ته وسپاري.

ډاکټر صيب نظم قطعه او سندره هم ليکلې ده خو ډېره کمه. اکثر ئې په غزل طبع ازمائي کړې ده. د ډاکټر صيب شاعري، د قامي رنګ، ترقي پسند رنګ او روماني او روحاني رنګ ته ډکه ده، خوږه ده، رنګينه ده او زړه وړونکې ده.

وخت کۀ مې هر څو بې زنځيره مړوند پرېښې نۀ دے
ما د خپل فکر په وطن قيد و بند پرېښې نۀ دے

زما د ژوند په افسانه کښې دې بې خوږو ياره
چېرته د خدائے د پاره ټکے د خوند پرېښې نۀ دے

کۀ مونږ د ډاکټر صيب په دې دوو شعرونو هم فکر وکړو نو وئيلے شو چې هغه د ځان په حواله په فني ژبه د وطن تاريخ بيانوي او خپل ځان په هره وړه او غټه خبره کښې د مدعي په طور پېش کوي.

ketabton.com - The Digital Library

چې د ننګ او د پښتو په کار کښې غلهٔ دي
ما مدام کړې له داسې خلکو ځنګ دے
پاکستان کهٔ هر څو ډېر پراخه ملک دے
زما ساه ده پکښې ډوبه زړهٔ مې تنګ دے
هېڅ حاجت ئې بهرنې دښمن ته نشته
زیار مودې وشوې د ځان سره په جنګ دے

ډاکټر زیار - پړاؤ په پړاؤ خپل کیفیت هم بیانوي د خپل فکر و نظر وضاحت هم کوي او د منزل نشان دهي هم. په اصل کښې هغه د ادب او سیاست دوارو مطالعه کړې ده. د دوارو د مقاصدو نه خبر دے او په دوارو روان پاتې شوے دے. د ډاکټر صیب فکر د وطن په حواله. د ژوند ژواک په حواله د تاریخ په حواله او تحقیق په حواله هغه ځائے ته رسېدلے دے چرته چې په هېڅ خبره کښې شک نهٔ پاتې کېږي او دغه هر څهٔ له چې هغه د اظهار ژبه ورکوي، فني ژبه ورکوي نو نهٔ د پښتو شعر روایت زخمي کوي نهٔ د جدت پېدا کولو نه بې توانه ښکاري او نهٔ بدرنګې خاکې راکاږي بلکې هغه

دریاب ډاټ نېټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

تصویرونه جوړوي په کومو کښې چې نه یوازې پېغام وي بلکې فني زړه راښکون هم لري

زه د ډاکټر صېب د شاعرۍ په حواله په ډېرو روایتي خبرو تکیه نه کول غواړم. زه پوهېږم چې د هغه شاعري د ډېرو روایتي خبرو او ستائنو حاجت هم نه لري. البته لوستونکي به یقین لرم چې زما سره اتفاق وکړي چې د هغه د شاعرۍ آئینې داسې دي چې مونږ پکښې د خپلو جذبو خپلو کیفیتونو، خپلو دردونو، خپلو رسمونو، خپلو مئینو، خپل وطن، خپلې خاورې، خپل قام اولس او تاریخ عکسونه لیدے شو

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

پښتونخوا به د رنګونو خزانه وي
که رښتیا وي په رښتیا وینې راوړي رنګ
خدایه څه ګرانه خبره کول غواړي
د جانان په مخ چې داسې ځي راځي رنګ

ما چې د ډاکټر صېب دا کتاب ولوستو نو هر څو که هغه زما سره ډېر قریب ملګرے پاتې شوے دے ما ته دغه کتاب د هغه د وئیلو شوو غزلونه په

ketabton.com - The Digital Library

فرق ډېر نوے کتاب ښکاره شو. ډاکټر صېب شعر داسې تخلیق کوي چې د شک ګنجائش پکښې نۀ پرېږدي. بیا هم فني لاړې دومره نازکې وي او داسې سړے ترې ساتي چې نۀ په ټولو کمالونو سړے پوره کېدے شي او نۀ ئې پوره تنده ماتېدے شي. د ډاکټر صېب دا ټول کتاب د شعر د مئینانو دپاره نوے څکه دے چې هغه ډېرو خلکو اورېدلے نۀ دے. البته د هغۀ هغه غزلې چې سندرغاړو وئیلې دي د هغې د اورېدو سره د ډېرو ښاغلو په ذهن کښې سوال پېدا شوے دے چې یره ډاکټر خالق زیار څوک کېدے شي.

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د دې سوال جواب د هر چا دپاره هم د ډاکټر صېب دا کتاب کېدے شي. ما ته یقین دے چې دا کتاب به خلک ولولي، څکه چې اوس پښتانۀ د کتاب سره اشنا شوي دي او بیا د ډاکټر صېب غزلونه خو په روزمره، متل او محاوره، تشبیح استعاره رانغښتلو کښې ډېر سخاوت لري.

ketabton.com - The Digital Library

اوس مې هم زړۀ هغه رنګې د ے لکه چې ؤ ځنګه
اوس هم ستا غمونه خوري او خپله ګوزاره کوي

داسې په هنر هنر مې سيزي يار د زړۀ وطن
نۀ ئې د لوګي څۀ پته لږي نۀ لمبه کوي

دا ډاکټر خالق زيار، دا ئې کتاب او دا ئې لوستونکي

د خدائے په امان

په ډير درناوي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

**رحمت شاه سائل**

باچاخان مرکز پېښور

۲۰۰۸-۵-۲۰

ketabton.com - The Digital Library

# ښپېړې

چې تکوې کاڼي زمونږ په مېنځ کښې
خدايه د لاس په ځائے ئې زړهٔ پولې کړې

زمونږ د يو انغړي هر دښمن له
خپل پلارنے کور د بېلتون چونړې کړې

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

راشه د نۀ راتلو دا پال مات کړه
د بېلتانۀ د غرور خيال مات کړه

لکه وربخې راخورې کړه زلفې
د زړۀ په دشت مې پشکال مات کړه

راشه د لاس زنځير مې وشلوه
د خاموشۍ د سرود تال مات کړه

زما سنګين زړۀ ئې اوبۀ اوبۀ کړۀ
نظر په زور د خپل جمال مات کړه

د وخت په غېږ زما د وينو کنډول
د خپلې زنې په شين خال مات کړه

اوس به د ژوند فېصلې جنګ نۀ کوي
توره دې وغورځوه ډال مات کړه

خدائے به دې نۀ وژني د لوږې **زياره**
وکړه توکل کچکول د سوال مات کړه

ooo

چې خبر د خپل ارمان د ګل په زړهٔ شوم
د ازغو څادر مې واغوستهٔ اودهٔ شوم

تو هم او بې وسې د وخت دوه غشي
د يو تهٔ ښکار شوې اشنا او د بل زهٔ شوم

دا مې ستا د ژوند تودې سرې پاللې
دا چې کله به شوم او ر کله اوبهٔ شوم

زهٔ کهٔ هر څو اباسين يم په غور څنګ يم
ستا د ياد په تنده چيرې سېوا نهٔ شوم

د رقيب د څورولو په نيت خاندم
کهٔ رښتيا شي بلا تنګ په ژوندانهٔ شوم

چې مې تهٔ څنګ ته ولاړ وې په ځان نهٔ وم
چې تهٔ نهٔ ئې زهٔ په شته زړهٔ کښې بې زړهٔ شوم

زما زړهٔ د کاڼي سخت دے چې لا نهٔ چوي
لويه خدايه زهٔ د څهٔ نهٔ وم د څهٔ شوم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

پـه ویـښـه، شـپـه زمـا جانـان اخلـي
پـردې ګنـاه هـم پـه خپـل ځـان اخلـي

چې د ګل چین غندنه نهٔ کوي څوک
ساه بـه پـه څـهٔ د ګـل ارمـان اخلـي

زمـا د لـوړې عقـل غـرور مـاتوي
دا وخـت څـهٔ داسـې امتحـان اخلـي

چې په ګوګل کښې غرغنډې ګرځوم
اور بـه مـې خامخـا ګرېـوان اخلـي

هـم مـې د زړهٔ پـه وینـو لاس رنګـوي
هـم مـې نامـه پـه ځـار قربـان اخلـي

راشـئ د **زیـار** تماشـه وکـړئ خلکـو
سـر ورکـوي د پګـړې شـان اخلـي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

تکي چې ستا نه وي په زړه نه لګي
ستا د خولې درې شلې شېبته نه لګي

لا دې د لاسو بنګړي مه ماتوه
لامې په زړه خاموشي ښه نه لګي

ته اطاعت زه بغاوت غواړمه
ښکاري چې دا پيوند به وه نه لګي

څه به خوري خدايه د جانان غمونه
زړه مې څه کاڼے اوس پرې خوله نه لګي

ستا د نظر د شيش بلا واخلمه
ښغ مې پرې زړه لګي بل څه نه لګي

څه خو به وي چې په خندا ئې اخلم
کاڼي د چا په سر پاسته نه لګي

چېرته چې راج د مينې درد نه کوي
د **زيار** په داسې خائے کښې زړه نه لګي

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

چې ستا په لاړ کښې زوروړ ودرېدهٔ
روزګار په تپه د ګودر ودرېدهٔ

چې شو نږدې زهٔ او سپرلے د ارمان
وخت مو تر مېنځه لکه غر ودرېدهٔ

د محبت زړهٔ چې ټوپونه بس کړل
نبض د ژوند په هر ډګر ودرېدهٔ

د ننګ قيصه سرته ونهٔ رسېده
په نيمه لاره کښې لښکر ودرېدهٔ

نورو د نيشت نه کړې مانۍ ودانې
پښتون څوکۍ ته ئې په ور ودرېدهٔ

رانه شوه هېره د سرو سپينو قيصه
ستا په شين خال چې مې نظر ودرېدهٔ

**زياره** د اوږد جنګ نه پس په کابل
جهل شهٔ زور، لاس د هنر ودرېدهٔ

ستمبر ۱۹۹۵

ketabton.com - The Digital Library

ooo

چې يو وار رسي بل په لار غم دے
په ما مئين څۀ په ناتار غم دے

خدايه په هېڅ څېز مې غلط نۀ کړۀ
دا زما غم څومره هوښيار غم دے

لکه چې لار ئې د وتلو نيشته
داسې مې پروت په زړۀ قلار غم دے

په نيمه شپه راته هم سرته ناست وي
څۀ د اودو سترګو بېدار غم دے

زما چې هره ساه زېرګي زېرګي ده
په زړۀ مې پروت انبار انبار غم دے

د ژوند مزل څۀ زاره چاودې مزل
هر ځائے ولاړ په انتظار غم دے

څۀ دلاسه ورکړئ څۀ ډاډ ورکړئ
يارانو راشئ نن په **زيار** غم دے

درېم جون ۱۹۹۱

۱ د خپل ورور اروانباد عبدالمالک د مرګ په تاثر کښې

ketabton.com - The Digital Library

ooo

رقیب مې بد وائي جانان ورسره سر اړوي
لکه چې ما د خپل ارمان سره په شر اړوي

دا چې په ځان درته نن یو څه سیا بل څه کوي
دا خو زما د تماشې نه ستا نظر اړوي

په خپل سمي چې کله غواړي تلهٔ راتلهٔ دې کوي
زړهٔ مې کندر شه ستا په غم پسې کهٔ ور اړوي

ما په ګودر پورې د ژوند ګټه تاوان تړلې
د جانان تشه مشغولا ده مازیګر اړوي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د راکتلو د انداز هنر ئې یو پله خو
چې سترګې اړوي نو هم ئې په هنر اړوي

ماته معلوم دے زما زړهٔ دے غېرتي زړهٔ دے
ما په ضرور ستا د غرور د غرهٔ په سر اړوي

**زیاره** څهٔ ورځ دوه کهٔ وي پاتې دیدنونه وکړه
را روان شوے بېلتون کده په ګودر اړوي

ketabton.com - The Digital Library

# قطعې

۱

يو ده تيارهٔ بل مې لاس نهٔ ودرېږي
لګيا يم کاني مسلسل ؤلمه

د دوست دښمن تميز امکان نهٔ لري
چې يو پردے ؤلم بل خپل ؤلمه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

۲

مينه او پت په پته لويه خدايه
ما به د زړهٔ سره په شر واړوي

په ډاګه اخلمه نامه د جانان
څوک به مې څهٔ د لارې خر واړوي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

بیــا مــې د مینــې پــه جنجــال واړوه
زمـــا د خپلـــه ځانـــه خیـــال واړوه

د ځــان ځــانې د غــرۀ پــه سـر جانانــه
مـــا د اوږدو زلفـــو پـــه تـــال واړوه

کۀ زړۀ مې غواړې د خپـل حسن په سر
رنـــګ د دې خـــاورې د جـــلال واړوه

د مغل کړوسې به تر څو پورې خورې
مـخ تـرې پـه لـورې د خوشـحال واړوه

بېلتـون لـه وخت پـه وخت نېتمې ورکـوه
ورځې په میاشت میاشتې په کال واړوه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د ضد قیصه دې سرته ورسېده
خبره لاړه شر ته ورسېده

اوس پکښې ځائے د مینې پاتې نۀ شۀ
خبره زور او زر ته ورسېده

د شتمنۍ په ارمان ورکه لېلی
لاړه خپل وران کنډر ته ورسېده

زۀ خبر نۀ یم چې د مینې قیصه
چېرته شروع شوه چېرته ورسېده

بیا خوده ګټه یقیني ملالۍ!
کۀ ستا ټپه سنګر ته ورسېده

د تلو راتلو خبره لېرېوته
د چیتهۍ خبر خبر ته ورسېده

بیا مې ټناکې شو د زړۀ زخمونه
بیا مې صدمه باور ته ورسېده

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کوم د مينې درد دے چې ما خپل نهٔ کړهٔ
ستا يقين لا نولس[١٩] دے تا شل نهٔ کړهٔ

هـر ځـل زمـا غـاړه د دهٔ پـړے وي
پـه نـصيبه دا باچـا مـې غـل نـهٔ کـړهٔ

زهٔ خـو پتنـګ اومـه لا اوس هـم يمـه
تـا راتـه ميشال د نظـر بـل نـهٔ کـړهٔ

مينـه خـو لا ځـهٔ چـې تـور د مينـې هـم
ما پـه سرو او سپينو کنبې بـدل نهٔ کړهٔ

جـوړ مـې کـړه يقـين پـه ځـان بيـا وګـوره
لـيـک مـې درلـه وران کـهٔ د ازل نـهٔ کـړهٔ

بـې لـه دې تـوتې وطـن د ذکـر نـه
يـو مـې هـم پـوره چـېرتـه غـزل نـهٔ کـړهٔ

بيـا لکـه چـې تـهٔ د بغـاوت نـهٔ يـې
نـن کـهٔ دې هـم **زيـاره** ورتوکـل نـهٔ کـړهٔ

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# اې زړګیه

اې زړګیه، اې زړګیه
کۀ دې قات دې نن خوبونه
کۀ دې سوزې ارمانونه
کۀ په سور اور کښې ولاړ ئې
کۀ تباه ئې، کۀ برباد ئې، کۀ لټار ئې
خبر دے وې به که هر څۀ وې
چې پرې نوځې
چې مات نۀ شې
د دې وخت د دې حالاتو ټول دردونه
بنۀ په نره په ځان واخله
د خپل ځان امتحان واخله
زۀ خبر یم

ketabton.com - The Digital Library

ماته پته ده زړګیه
چې دا وخت په څۀ پسې د ے
چې دا وخت رانه څۀ غواړي
کۀ مې سر د غرور ټیټ کړۀ
کۀ د تنګ لاره مې پرېښوه
کۀ د پت له سنګر لاړم
بیا قلاره قلاري ده
بیا به ژوند ښۀ په ارام وي
بیا به بد نۀ به بدنام یم
خو زړګیه اے زړګیه!
زۀ د دې نه هم خبر یم
چې په کور د پښتنو کښې
چې په دې لارو کوڅو کښې
چا د ننګ لاره پرېښودې
چا د پت کورته شا کړې
هغوي هر څۀ دي بائللي
هغوي څۀ چې پاتې پښت ئې
په عمرونو په عمرونو

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ستړګې تيتې ګرځولې
تاريخ داسې دې سپک کړي
خلکو داسې دې کړلي
چې د خپله نومه تل دې تښتېدلي
هره ورځ دې شرمېدلي
په قدم قدم مړۀ شوي
نو زړګيه اے زړګيه!
دا وخت څې څۀ ولاړ نۀ دے
دا نا ښۀ ورځ به سبا له
سرچينه د خوشحالۍ وي
هر يو خيال به يې رنګين وي
هر يو ياد به يې سپرلے وي
خو چې نن حوصله وکړې
خو چې نن بې ننګه نۀ شې

۱۲ اکتوبر ۱۱۹۴

دریاب نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

مستي ترې کډه کړې شور نشته
هغه زوړ خوند د کلي کور نشته

چې تر قيامته ستا نازونه يوسي
زما د زړۀ خو دومره زور نشته

خدايه د کوم لوري هوا ته کښېنم
سپرلي خو څېرته هم سمسور نشته

د پاتې غم سره دې څۀ چل وکړم
زړۀ مې د ګک شوي څائي پرې نور نشته

کۀ ناپوره وي د پتنګه به وي
چا وې چې شمع نشته اور نشته

نور کۀ بادشاه يې هم بلا درپسې
ستا په تندي د مينې تور نشته

**زياره** په څۀ به سرې غم غلط کړي
يکه زار نشته تنګ تکور نشته

DARYAAR.NET

ketabton.com - The Digital Library

# د سلام ورور په نوم

نور څهٔ نشته ګرانه یاره تش دردونه دي دردونه
خو د چا مخې ته کښېنم چا ته اووایم حالونه!

چې یې دردلیدلے نهٔ وي، د درد حس یې هم اودهٔ وي
پرهر زړونه ورته ښکاري د سمسور سپرلي ګلونه

وېم مارغهٔ شوے په هوا شوے دلته ستا ترڅنګه راغلے
یو په یو مې درته اووې خپل زړهٔ چاودي داستانونه

چې د زړهٔ په سر یې هر وخت د دردونو غوبل جوړ وي
سړے څنګ کړي سترګې پټې سړے څنګ وکړي خوبونه

د ګلابو په دې ملک کښې د رنګونو په دې ښار کښې
ما لمن ازغي ازغي کړه ما راغونډ کړهٔ حسرتونه

وېم چې زهٔ درته قیصه کړم تهٔ په خپل انداز کښې "نه" کړې
د دنیا د شر و شوره یو طرفته کړو ځانونه

بلغاریه- جنوري ۱۹۸۴

[۱] د زړهٔ دي ډاکټر عبدالسلام چې زهٔ ورته سلام ورور وایم

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نصیبه مې په تندک پسې تندک دے
لاچې نهٔ چوي دا زما زړهٔ بلا کلک دے

راشه جاج مې د حال واخله تهٔ پوهېږې
لېونے یم کهٔ مې هسې په ځان شک دے

زهٔ یم تل ستا د پرې نه جنګېدلے
تا مدام کړے زما په مټ کښې ټک دے

دریاب ډاټ نېټ

دا چې ناست یم خپله ځوانه مینه ژاړم
رانه ورک د خپل ارمان د کور درک دے

DARYAAB.NET

نور مې لاس له ګرېوان او باسه اے وخته!
د زغم لوښے مې تر مورګو مورګو ډک دے

بانډېچغ کښې ستا د زلفو یو پېر څهٔ وهٔ
مودې وشوې سر مې اوس هم په چورلک دے

د **زیار** چغه یې د سر دپاسه اوړي
په دې ښار کښې کهٔ ساده دے کهٔ زیرک دے
۹۳\۱۱\۲۲

ketabton.com - The Digital Library

# درې شعرونه

ما د ے تل په خندا ګانو ځان وژلے
ما دې تل کړې ویرونه په سر توره

لکه څنګه چې سړے ساتي خپل خور لاس
داسې ما د ے ځان ساتلے د پېغوره

تا د **زیار** زړګے سبزه وسوې په خپله
اور چې لګي همېشه لګي د اوره

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دا دنیا د څهٔ نه خدایه څهٔ نهٔ شوه
یو ده زمونږ بده ورځ چې ښهٔ نهٔ شوه

وخت راته پرې ډېر ډېر څهٔ ست کړي دي
مینه وه په یو قیمت مې زړهٔ نهٔ شوه

بیا به ترې د ځان د حال تپوس کووم
چېرته کهٔ یوه شپه هم ا ودهٔ نهٔ شوه

څهٔ به مې غرور د میني پاتې وهٔ
ښهٔ شوه چې پخلا د چا په خولهٔ نهٔ شوه

خولهٔ د یار کهٔ هر څومره ارزښت لري
شوه چې په غوښتو لکه چې وهٔ نهٔ شوه

**ژیاره** بس تپه کړه دا د میني راز
بده خو به شي کنهٔ کهٔ ښهٔ نهٔ شوه

ketabton.com - The Digital Library

## شک

چې دا دښمن مې پښنه راکاږي او کهٔ هغه دښمن
خدايه دا شک مې تر قيامته پورې شک پاتې وي

يو به دا څو ياران پيکه نهٔ وي، کوز سترګي نهٔ وي
بل به زما يقين په نوم د ياری کلک پاتې وي

۱۹۹۳\۸\۲۳

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## لارې

يو په جانان بل په روزګار پسې تګ
خدايه وهل دي راته غبرګې لارې

خومره چې تند ځمه. په منډه ځمه
دومره اوږدېږي خواني مرګې لارې

ooo

وخت دے نن سر ورکوم تا اخلم
جاج به د کتمې تاوان بیا اخلم

اور اورکي د سترګو وپر قوه
د زړهٔ تیارې له ترې رڼا اخلم

وخت رانه داسې نو زړهٔ وېستے نهٔ دے
چې ستا سلام به هم په غلا اخلم

کهٔ وېروي ما به په څهٔ وېروي
زهٔ د هر درد د سر بلا اخلم

بې له ښېرو چې بل څهٔ نهٔ پېژني
زهٔ د هغې خولې نه دعا اخلم

اے د منزل، اے د ښائست ارمانه
وار وکړه لږه غونډې ساه اخلم

هغه وخت خپله بې وسې اوژاړم
د زهرو جام چې په خندا اخلم

ketabton.com - The Digital Library

ooo

درياب ډاټ نيټ

هيڅوک په يوځان نهٔ دي اشنا پوره
زهٔ بهٔ يم په تا او تهٔ په ما پوره

ماته لارې څهٔ وې، مزلونه څهٔ
ستا وه بس د نيمې خولې وينا پوره

نهٔ مې جنتي نهٔ دوزخې کړهٔ ځان
نهٔ مې کړهٔ ثواب او نهٔ ګناه پوره

لره چې وي داسې بره هغسې
خدائے خبر کهٔ زر شي پښتونخوا پوره

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

اوس خو په قدم قدم نیمګړے یم
اوم به، خو شاید چېرته پخوا پوره

مینې کۀ د ځانه ناخبره کړم
پته راته ولګېده ستا پوره

د رنګ له ستم، د رنګ له التفات د یار
نۀ مې کړې شېرې او نۀ دعا پوره

جرم د وفا مې لا نیمګړے دے
او روي په څۀ راته سزا پوره!

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# قطعې

ooo

**زیاره** د درد په دندو کار کښې خوښ یم
بې مینې، بې درده سړے به څۀ وي

ازغنــه لار پــه تــصور د جانـــان
داسې ګل ګل ده چې سپړلے به څۀ وي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ooo

نۀ مې زړۀ مات شوے نۀ موړ شوے دے
ډېـرې کـۀ ټکـرې مـې خـوړلې دي

دا بیلـه خبـره ده چـې نـۀ مرمـه
مـا د زهـرو ډکـې پیـالې څـښلې دي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وخت کۀ مې پوک وهلـه بلـه ډېـوه
خدائے مې کړه جوړه د ګوګلـه ډېـوه

ما دې د یاد ځلے شار کړے نۀ دے
ورېم ورلـه اوس هـم کلـه کلـه ډېـوه

تیـارو چې پرابـستمه د لـوئے ګړنګـه
تــا راپــسې راوړلــه هلــه ډېــوه

زۀ بــه ګیلــه پــه څــۀ د بلــه کــؤم
مـا د ے سـېزلے ځـان پـه خپلـه ډېـوه

مــړه کــړه پــه لاره غرنــو بــادونو
مـــا وه راخــــستې د کابلـــه ډېـــوه

پتنګـان ورک شـو، پتنګـان نـۀ راځـي
مـا بلـه کـړې څـو څـو ځلـه ډېـوه

د هغـه وخـت پـه انتظـار یـم **زیـاره**
پـه دې تیـارو کـښې چې شي بلـه ډېـوه

ketabton.com - The Digital Library

# درې شعرونه

دریاب ډات نیټ
DARYAAB.NET

د سود په وخت کښې چې هم خپل پردي وته پېژني
زړۀ مې بخیل نۀ دے خو داسې تالاتي هم نۀ دے

سبا به ګل هره ریښه وي د شیدلي ګرېوان
کۀ مې دا خوب رحماني نۀ دے شیطاني هم نۀ دے

کۀ جانان نشته جانانه فکرونه ډلې ډلې
**ژیار** کۀ د ګټې کور ونۀ موند تاواني هم نۀ دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نور ګزران په دې دوزخ کښې د زغم نهٔ کړم
یا به تا له یا به ځان له زور اوبهٔ کړم

اوس هم نهٔ یم لا د سترګو د سېزلو
اوس هم غرونه کنستې شم کهٔ د زړهٔ کړم

خدایه څو خوبان شلېدلي ګرېوان غواړم
چې دا سوے لوګے زړهٔ څو پرې لږ ښهٔ کړم

اوس کهٔ هر څو اوښکې توې د پښېمانۍ کړې
زهٔ سوکړو وچ کړے ګل په باران څهٔ کړم

د یارۍ د حق په چارو کښې یارانو!
کهٔ څه پاتې وي نو اووایئ چې وهٔ کړم

لکه وچه پاڼه ځي د باد په خوښه
داسې در په در دې یاره بېلتانهٔ کړم

**زیاره** هېرې به د عمر شوګېرې کړم
په څنګل کهٔ جانان څو لحظې اودهٔ کړم

دریاب ډاټ نېټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

لرو چې یو بل ته خوږې سترګې
دواړه ازغي یو د یوې سترګې

ما چې ترې مینې له ژوندون اوغوښته
جانان راواړولې مړې سترګې

چې ئې نظر لګي تر ځانه پورې
خدائے مې خوږې کړې په هغې سترګې

کۀ د تنګ سرۀ پکښې هم پاتې نۀ شي
نورې د څۀ دي پښتنې سترګې

د نوي دور په روي ګرانه یاره
ما ته راواړوه زړې سترګې

تۀ په نیستي کښې هم بادشاه یې **زیاره**
چې خدائے درکړې دي مړې سترګې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

جانان د وخت په کرشمه سر کېښودهٔ
توري ډالونه يې لښکر کېښودهٔ

وريا هم نهٔ دي دا اوبهٔ د تلکو
مونږ پرې رنګونه د ګودر کېښوده

نن کهٔ سبا وي خو رسوا مې واخله
په يو بې زړهٔ مې نوم د نر کېښوده

کله چې سور شهٔ غرغنده شهٔ اسمان
تامې په لاسو کښې وزر کېښودهٔ

چې سر ته نهٔ رسي زما تر عمره
جانان د داسې لوبې سر کېښودهٔ

تاکال و سر باران د اوښکو غوښتهٔ
خدائے مې په زړهٔ کښې سمندر کېښودهٔ

د **ژيار** چې لاس ښوخي تند ے پرې وهي
خلکو پرې نوم د بختور کېښودهٔ

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# سندره

کټ پوزې ونغاړه چې څو جانانه
دا کلي پاتې بنه دې
ترڅو به دا ناکړدې ورو جانانه
دا کلي پاتې بنه دې

ooo

دلته د ذات په کور کښې بند دي خلک
ما او تا څه پېژني
نه د روزګار دي نه د ژوند دي خلک
ما او تا څه پېژني
ځانونه ځله لوګو جانانه
دا کلي پاتې بنه دې

DARYAAB.NET

ooo

د بل ارمان چاته ارمان نه ښکاري
لري د کاڼي زړونه
د درد خاوند ورته انسان نه ښکاري
لري د کاڼي زړونه
وخت پرې نور نه خرابوو جانانه
دا کلي پاتې بنه دې

ooo

ketabton.com - The Digital Library

دلتـــه زړۀ ســـخت ژبــه خــوږه پــسته ده
پـه دې مـونږ نـهٔ پـوهېږو
دا د بـــازار قيـــصه جـــدا قيـــصه ده
پـه دې مـونږ نـهٔ پـوهېږو
څـه چـې هـم نـن تـرې كـوچ كـوو جانانـه
دا كلـے پـاتې بـنـهٔ دے
ooo
مـا او تاڅـهٔ څـهٔ پـه ځـان كـړي نـهٔ دي
تـهٔ خـو لـږ فكـر وكـړه
مـا او تـا څـهٔ څـهٔ پـه زړهٔ وړي نـهٔ دي
تـهٔ خـو لـږ فكـر وكـړه
ځانونـــه هـــسې كـړوو جانانـــه
دا كلـے پـاتې بـنـهٔ دے
ooo
مـونږ يـو سـر شـار پـه بنګـاوو د مينـې
ځانونـــه نـــهٔ پېژنـــو
مـــونږ مـــشهور پـــه لېونـــو د مينـــې
ځانونـــه نـــهٔ پېژنـــو
دلتـــه ځانونـــه بـــاېلو مـــرو جانانـــه
دا كلـے پـاتې بـنـهٔ دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د ځـان چـې غتـه وايـو غـورې كـوو
دا د كمـــزورې زړهٔ خبـــرې كـــوو

خلـک شـوګير كـړي. منـزل پلـه ځـي
مونږ يـو چـې تـل د خوب اشـرې كـوو

چـې يـكـښـې يـوواري هـم ونـهٔ خانـدو
څـهٔ كـهٔ پـه كـال كـښې دوه اختـرې كـوو

ولـــې بـــه نـــهٔ يـــو د پـــردو د خنـــدا
چـې پـه خپـل قـام پسـې لـښـكرې كـوو

**زيـــاره** د زوره يـــو پرېـــوتي جـــوړې
خبـــرې ځكـــه زوروري كـــوو

دریاب ډات نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د مینې بښخ د وخت اورنګ اوباسي
زما نه زړهٔ د ګل نه رنګ اوباسي

په وطن لوږه راخوره شوه داسې
خلک غنم کري لوټنګ اوباسي

اوس هم زما په لوري سترګې نیسي
اوس هم چې څوک له بنګړو شرنګ اوباسي

خدایه هغوي هم، چا چې لاس نهٔ لرل
اوس د ډرې غرګې نه غرنګ اوباسي

بې مینې خلک بې مروته خلک
په کوم شعار د جامه کړنګ اوباسي

په روغه جوړه چېرې هم نهٔ ووځم
ما به د ګلي نه په جنګ اوباسي

جانان یې نرخ ورسره هم نهٔ مني
**زیار** ئې د تلې نه پارسنګ اوباسي



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وخت را نه کړوسې ښې تو دې اوباسي
زما د زړهٔ نه ستا قيصې اوباسي

زهٔ يم چې ګرځم په اورونو پسې
خلک د ګرم ځائے نه پښې اوباسي

د ګناهونو سر هم دهٔ ابنود ے
دا په جمات کښې چې توبې اوباسې

يار مې سحر ماښام د زړهٔ د کوره
د ارمانونو جنازې اوباسي

DARYAAB.NET دریاب ډاټ نیټ

ketabton.com - The Digital Library

زۀ د احـــساس د تخـــم کـــر کوومـــه
خوبـان لـه کلـي مـې پـه دې اوباسـي

هر ځـل مې ځـان وړے پـه لوټـے اباسین
هـر ځـل مـې غـاړې تـه چپـې اوباسـي

دا چــې رقیــب راتــه بیـا بیـا یـادوي
هسې څۀ بـل څۀ مې لـه خولې اوباسـي

**زیار** به سبا له پردي لاس ته ناست وي
نـن چې د خپـل څـادره پـښې اوباسـي

دریاب دات نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

زۀ چې وهم سحر سحر، ماښام ماښام د ے
خوبان وائي پړي راوړی زيار سرسام د ے

نـۀ د مينــې انديښنې نـۀ د جانـان غــم
کـۀ ژونـد داسې وي زمـا ورتـه سلام د ے

توبـه ماتـه يـا پـر خـائے خـو اړ پـه دې يـم
غورځولے مې پـه ډک محفل کښې جام د ے

تـا مــدام پــه رنـا ورځ يمــه وژلــے
مـا اخــستے تـل د ځانــه انتقـام د ے

زۀ يـې تـل يـم د تنـدک سـره مـخ کـړے
ما چې کـوم قـدم اخستے پـه ډېر پـام د ے

پـه وطـن مـې د زړۀ بيـا زلزلـې راغلـې
د ښلتــون فوځونــو بيــاترلے لام د ے

خدائے زده ولې داسې جگه شمله گرځم
خلک ټول وائي چې دا سړے ناکام د ے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

یخې چنې دي چې د مینې په ورشو پرېوځي
جانانه راشه زړۀ مې نیسه ورو په ورو پرېوځي

کۀ دې په سر کښې د شکونو سیلۍ نۀ الوځي
زما د لاس ګلاب دې ولې له کمځو پرېوځي

دې ځینې خلکو ته په هېڅ ځانونه بد نۀ ښکاري
د چا په ښو چې هم پرېوځي په نخرو پرېوځي

هره ورځ نوې جنجال نوې غم راوړي چې راځي
ځکه مې زړۀ اکثر د لمر په راختو پرېوځي

داسې په ځځ ځځ مې په زړۀ کښې ارمانونه سوزي
لکه په تود انغري ځاځکي د اوبو پرېوځي

یاد ته دې وایه چې یو څو ورځې په دې نۀ راځي
خطره ده تندر مې د زړۀ په ګل درو پرېوځي

بیا به دې څوک درنو نازونو له اوړه ورکوي
**زیار** خو دې ورځ په ورځ جانانه د بازو پرېوځي

بلغاریه- جنوري ۱۹۸۴

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

اخلم په یو غم پسې بل غم ځمه
زهٔ د کور په لوري د صنم ځمه

لارې د حالاتو دوړو ونیوې
اوس په منډه نهٔ ځم په قدم ځمه

زهٔ د مسیحا د کوره هم خدایه
هر وارې چې ځم په زړهٔ کږم ځمه

داسې مې نو ایستې توبه هم نهٔ ده
اوس هم میخانې ته ځم خو کم ځمه

ketabton.com - The Digital Library

ماته د هوارو لاروم وايه
زۀ د ګړنګونو په سر سم ځمه

غر مې ستا دغم راپشا کړے دے
نۀ مې څوک زبېرګے اوري نۀ ستم ځمه

لارې کۀ درنې دي کۀ خونخوارې دي
کړے مې د ژوند په سر قسم ځمه

هسکه غړۍ تګ مې شناخت شوے دے
خدائے مۀ کړه چې سر به چېرته خم ځمه

ژاړم خپل توتې وجود ته ځائے په ځائے
**زيــاره** چې کابل ته په تورخم ځمه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

هـم یـې بیـره ده ساتلې هـم ئـې تـال دے
راشـه سـتا لـبونے اوس هـم پـه خپـل حـال دے

د لـوئے خـدائے نـه مې هـم تـا لـه دوران غوښـتے
کۀ مې کړے په خپل ژوند کښې چېرته سوال دے

داسې زر تـرې جـوړ کـړي یـو څـۀ کلـه بـل څـۀ
تـۀ بـه وائـې زړۀ مـې ختـه یـار کـولال دے

شـپې اخـستے پـه ځـان نـۀ وي حـساب نـۀ دے
نـور زمـا او سـتا سـیالي د چـا مجـال دے

ketabton.com - The Digital Library

ما دعا کړې مدام چې "خدائے دې روغ کړه"
تا مات کړے تل زما په وينو پال دے

چې د سود خبره راشي خلک ډېر دي
چې د حق د اذان وخت شي يو بلال دے

ستا د پنجو په سر تلۀ مې زړۀ پرېباسي
مشران وائي چې کبر له زوال دے

زۀ پښتون يم تۀ ښائسته ئې دا پوره ده
په دنيا کښې خو جلال دے يا جمال دے

زۀ د هرې انتها تر بامه لاړم
ما په ډېرو خوارو موند ے اعتدال دے

کله هم چې ستا جفا ته مې پام شوے
اړولے مې په بله ځان له خيال دے

يو د مينې په سر جگه شمله گرځي
کۀ په نوره شتمنۍ شي **زيار** کنگال دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

چې ستا له مخه مې نظر ګرځي
زۀ را پرېوځم په ما سر ګرځي

دلته دليل منطق څوک نۀ پېژني
په دې کوڅو کښې زورور ګرځي

زۀ ئې د لېرې لېرې تلو په طمعه
جانان په خپل ځائے لکه ور ګرځي

زما سره لکه د سيوري غوندې
هنګامې ګرځي شور و شر ګرځي

ketabton.com - The Digital Library

زما ملا خلکو ته اوس هم وائي
"زمکه ولاړه ده او لمر ګرځي"

چې يم روان د صوفيې په ښار کښې
زما په زړه کښې پېښور ګرځي

نور مې رقيب ته صبر واخله تمام
ښې ئې راخستي دي په سر ګرځي

دا يو لطيف(۱) ايمل دريا کړې خدايه
مغل راغلي په خيبر ګرځي

**زياره** يو ته هم پکښې داسې سهي
دلته ډېر خلک در په در ګرځي

بلغاريه- دسمبر ۱۹۸۳

(۱) لطيف اپريدے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

بس چې يوه مينه بې خطرې کوو
نور به خير د ے ژوند د ګزارې کوو

ملک د ے د پښتو کۀ نور مو هېڅ نۀ شو
چا ته به دعا چا ته ښېرې کوو

مونږ ازغي په سترګو کښې تومبلي دي
مونږ د ګل په ياد کښې شوګېرې کوو

ښخه پکښې رنګ به پښتني ساتو
مونږه کۀ ښادي، کۀ لاس نيوې کوو

وخت صرف په دې ګناه کړلی یو
قدر د مئین زړهٔ د جذبې کوو

مونږ خو ماتولو له ایستلی وه
نور به اخیر څهٔ شے په توبې کوو

مونږ مئین په حسن او سندرو یو
قدر به د ګل او د نغمې کوو

تلی لیوني د ښار په لوري دي
هسې په دشتونو ګښې نعرې کوو

ښکلي وائي **زیاره** مونږه ښکلي یو
مونږه وفا نهٔ کوو. وعدې کوو

ketabton.com - The Digital Library

# د خېبر اپرېدي په یاد کښې

ooo

د خېبـر مینـه پـه چـا کـړي سـړے ماتـه
پـه وئیــل هـم پـه ادا کـښې وۀ څـانګړے

د قلــــم د مئینـــــانو تـــسلی لـــه
کاش چې بل یو خېبر هم وے مور زاوړے

ooo

د هغــې وخـت نـه محفـل نـۀ راجـوړېږي
چــې د کلــه نــه خېبــر ده کــډه وړې

یو سړے وي چې یو کور ته پرې زیان رسي
پـه خېبـر ده پـښتونخوا تولـه نیمګـړې

(د خدائے بخښلي خېبر اپرېدي د څلوېښتمې په ورځ اورول شوي دي)



DARYAAB.NET

ooo

رنګ کۀ پکښې ستا د جمال نۀ ښکاري
نور به په تصوير کښې د ژوند څۀ ښکاري

دلته غضب دا دے چې په زور زياتي
خلکو ته خپل بد ځانونه ښۀ ښکاري

يا به دي په شک ايمان راوړے وي
يا به د بل خولۀ درته خولۀ نۀ ښکاري

ستا بدلو سترګو ته چې ګورمه
ماته پکښې مخ د بېلتانۀ ښکاري

خدائے خبر چې زوړ شومه کۀ څۀ چل دے
پېښې د ناز هم راته درانۀ ښکاري

ستا مينې کړم خوښ داسې په دې کلي
کفر راته بل طرف ته تلۀ ښکاري

ستا د بېلتانۀ شوګير وهلے دے
زيار په ويښه هم اودۀ اودۀ ښکاري

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# کابل ته نهٔ درځمه

زما جانانه
په ما ګرانه یاره
بلنه مهٔ راکوه
کابل ته نهٔ درځمه
هغه کابل،
هغه د حسن او ښائست نمونه
هغه کابل،
هغه د مینې او اخلاص خزانه
هغه کابل،
هغه د ژوند سرچینه
هغه کابل،
هغه سپرلے سپرلے خواږه بادونه
هغه کابل،
هغه جنت جنت اباد باغونه
هغه کابل،

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

چې اوس ئې هم د يو يو ياد په راتلو
زما د زړۀ تيارې رڼا رڼا شي
هغه کابل،
چې اوس ئې هم د تصور په نشه
ماله د درد په بستر خوب راشي
هغه کابل،
اورم چې اوس هغسې پاتې نۀ دے
اورم چې اوس پکښې سپلونه نشته
اورم چې اوس پکښې باغونه نشته
اورم چې اوس پکښې بارود وريږي
اورم چې اوس پکښې مرګونه کيږي
اورم چې اوس پکښې ده چپه چپتيا
اورم چې اوس پکښې سړے وېرېږي
اورم چې اوس پکښې د مينې محبت خبرې
د پير ايمان کنځل دي
اورم چې اوس د کابل ګټه ګټه لوټه
په تللي وخت پسې ارمان کوي
زما جانانه
په ما ګرانه ياره

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

بلنه مۀ راکوه

کابل ته نۀ درځمه

کۀ درځم دغه حالت

په خپلو سترګو ګورم

کۀ درځم دغه قیامت

په خپلو سترګو ګورم

دغه نقشه به مې په زړۀ جوړه شي

زړې نقشې زما د خوښې نقشې

زوړ تصور زما جانان تصور

په کرښې کرښې راوړم

بیا مې چې زړۀ خفه شي

بیا مې چې ساه ډوبه شي

را یادومه به څۀ!

ځان له به غم غلطومه په څۀ!

زما جانانه

په ما ګرانه یاره

کابل ته نۀ درځمه

بلنه مۀ راکوه

۱۹۹۲/۱۱/۱۰

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

تا چې په خان نوې نامې پورې کړې
حق لرم که ما هم سترګې نورې کړې

خدائے خبر چې کله به قيامت راځي
شېخ راباندې اوس پيالې نسکورې کړې

ټول عمر مې وخوړ ځان له زړۀ ځيګر
بيا هم راله وخت سترګې شمکورې کړې

اوس پرې هم باور کوې اے زړۀ ساده!
ترې ئې په سين پورې راپورې کړې

مونږ وو ړانده کړي د منزل ارمان
مونږ له د پرو خلکو سترګې تورې کړې

وخت چې شۀ مشکل تدبير ئې وغوښتۀ
مونږه په تندو ځان له رانورې کړې

ځان کۀ ئې کړۀ ورک خو ستا د زړۀ دشتې
**زيار** د پسرلي په رنګ سمسورې کړې

ketabton.com - The Digital Library

ooo

غرغنـــدې اور د جــــدائی وکـــړې
د هـــر ارمـــان زړۀ مـــې پـــولی وکـــړې

هېڅوک ئـې غـوږ پـه اواز نـۀ کــړوي
وخت دې څۀ کوډې پـه شپېلی وکړې

مـا د زړۀ دشـت ګلګـون ګلګـون وسـاتۀ
مـــا د ســـپرلو ســـره ســـيالی وکـــړې

دریاب ډاټ نیټ

ځـان لـه تـرې خـم شـراب اوبـاسـم دا ځـل
خـــدائے کـــۀ وربـــشې ســـږنی وکـــړې

DARYAAB.NET

چې د شـلغاتو وخت شـۀ تېـر د جانـان
لـــوبې ئـــې مالـــه پـــه ځـوانی وکـــړې

ځـان مـې بادشـاه وګـانـۀ تـا چـې راتـه
قيـــصې د خپلـــې بېوســـی وکـــړې

**زيـــاره** بـائيللے جنـګ ګـتلے واخلـه
يـــو څـــو تپـــې کـــۀ ملالـــی وکـــړې

ketabton.com - The Digital Library

ooo

په هر قدم په هره ساه دردونه
د بېلتانهٔ وختونه ګران وختونه

پښې مې تناکې هم مې زړهٔ تناکې
په بې وفا پسې مې مات کړهٔ غرونه

تا راته لاس د ورلیه څهٔ خوارهٔ کړل
را غونډ مې زړهٔ ته شو بلا شکونه

د وخت په اور مې وینې او پاشلې
په تا به نهٔ لګي تاوده باد ونه

د وخت بې داغو ته چې خیال وکړمه
وېم چې تندے کړم ځان له تول داغونه

هم هغه خلکو مې خپه کړه مرۍ
چا چې په سر به مې راکښل لاسونه

اوس مې بس یو مینې ته کار وئیلے
اوس په شرق نهٔ ولم دا نور کارونه

○○○

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

پوه شه بې وسي ده بل څۀ چل نۀ دے
ذکر کۀ مې ستا کړے اول نۀ دے

څو کۀ مې تکرې بلا وخوړې
پرېښې مې اوس هم د جنون پل نۀ دے

دا زړۀ زما زړۀ دے زۀ ئې پېژنم
روغ هم پوره نۀ دے کۀ پاګل نۀ دے

ذکر چې د یار او خمار نۀ کوي
ډېر خلک به ناست وي خو محفل نۀ دے

ketabton.com - The Digital Library

جور ته د ملا پښور نه پرېږدم
هېر مې لاکندر کندر کابل نه دے

مات مې تندے تول عمر ساتلے دے
اېښے مې هېچا ته په درشل نه دے

خدايه دا په څه مصيبت واوړېدم
زۀ په قدم نۀ خم وخت د زغل نۀ دے

وشوه وخت به ډېر کړو کور کړے يم
لور مې خطا کړے د منزل نۀ دے

مۀ کوه شکونه په **زيار** مۀ کوه
دا سړے کۀ هر څۀ دے درغل نۀ دے

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

اوس بې لـه زوره بـل څـه ځـائے نـۀ نیـسي
اوس بـه هېڅـوک چـا تـه ځـولۍ نـۀ نیـسي

زمـا د غـرۀ پـه شـپـونکي څـۀ شـوي دي
په خولۀ کښې اور تیسي شپېلۍ نـۀ نیـسي

داسـې زړۀ مـوړي شـو وختونـه خدایـه
ادم مړونـــد د درخـــانۍ نـــۀ نیـــسي

دریاب ډاټ نیټ

اوس مـــې د پتـــې ژړا چـــل زده کـــړے
اوس مې پـه ګنـه کښې سلګۍ نـۀ نیسي

DARYAAB.NET

څـۀ کـړه پیکـه سـتا د نظـر شـېریني
چې زړۀ مـې نـۀ نیـسي مـرۍ نـۀ نیـسي

زۀ د جانـــــان دپـــــاره وایـــــم دروغ
مـا دې پـه دغـه ګنـاه خـدائے نـۀ نیـسي

پېژنـــې زیـــار مـــزاج د نـــوي دور
جانـــان تـــه لارې پخـــوانۍ نـــۀ نیـــسي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

خپر د ے کۀ سپړے جانان ته نۀ رسي
مینه کار د سود د ے زیان ته نۀ رسي

تا به را اوباسم ما به وړي اوبۀ
تا ته مې لاس رسي ځان ته نۀ رسي

هسې بلا کانې ولو کال په کال
یو پکښې هم سم شیطان ته نۀ رسي

لاس کۀ له مشرقه تر مغربه شي
بیا هم د بېلتون ګرېوان ته نۀ رسي

دومره لېرې پاتې شوم په لاره کښې
خبر خبر مې هم کاروان ته نۀ رسي

بیا به پر د ے خلک مېنځ ته نۀ پرېږدو
بیا به مو قیصه خپګان ته نۀ رسي

زور د ظلم هغسې په زور کښې د ے
**زیاره** ستا ښېرې اسمان ته نۀ رسي

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

تا چې په کومه لاره پښه ایښودې
ما ئې په هر ګوټ پېر د بوه ایښودې

یاد به دې لوبې کړي په سرو سپینو کښې
خدائے مې په زړهٔ کښې خزانه ایښودې

چې رانه غواړي مستي هغه جانان
ماته په مېز تشه پیاله ایښودې

لکه چې دواړه بل مسلک لټوي
شیخ دې تسبې، رند پیمانه ایښودې

ښکه به بېل شو چې د کلي خلکو
په ما او تا یوه نامه ایښودې

لا ارماني یم د نشو تماشو
لا مې په تاخ کښې ده توبه ایښودې

سترګې ئې برېښني په رڼا کښې د لمر
د **زیار** نصیب کښې ده خدائے شپه ایښودې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ooo

چې پکښې ګل د جانان زلفې سر ترسره نۀ شي
داسې سپرلي دې په ما هېڅکله د بره نۀ شي

څوک د ښائست مېرمن ترې شونډو له سرخي ورکوي
زما زړګے دې خالي چېرې د پرهره نۀ شي

د مرګه پس به واک د بل وي قول نۀ درکووم
په ژوند مې تګ، په تا قسم، چې د سنګره نۀ شي

چا وئيل سرخنه کوي نن به ګودر له راځي
ورځم چې ځان ورته لوګے کړم د نظره نۀ شي

نۀ يم بخيل خو چې خبره د رقيب شي کله
څاڅکے مې سود پرې د خپل زړۀ د سمندره نۀ شي

څۀ په خوارو مې رسولې ده تر نيمې پورې
خدايه قيصه د مينې بيا راته د سره نۀ شي

**زيار** به په کوم مخ د خپل شعر د فن ذکر کوي
کۀ ستا قيصه دغسې پاتې شي سندره نۀ شي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# د سرفراز لالا په مرګ

(دا نظم ما د لالا د جنازې په تاثر کښې ليکلے دے)

خدايه دا د ړنا غر
خدايه دا عظيم رهبر
دا د تورې شپې دښمن
دا اميد د سور سحر
دا د سيال کره پګړيه
دا د لوړ الوت وزر
دا غيرت غيرت پښتون
دا فولاد فولاد سنګر
دا لقمان د زمانې
دا د مينې سمندر
دا لاربنود د انقلاب
دا د وخت په زړه خبر

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

دا د هر ظالم بدخوا
دا د هر مظلوم دلبر
دا ليتکے د خپل کاروان
دا د ننگ د ملک سلطان
دا د امن مبلغ
دا د جنگ مرد مېدان
دا دښمن د ځان ځانی
دا د ګلهٔ ژوند ثنا خوان
دا د غېر د زړهٔ ازغے
دا د خپل د زړهٔ درمان
دا د توري مړنے
دا خودسره پهلوان
دا زمونږ سيورے د سر
دا زمونږ نيازبين جانان
دا دے څهٔ کوي دا څهٔ
دا دے چېرته دي روان
دے د خاورو لائق نهٔ دے –دے د ژوند دے ترجمان

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# د مخه ښه ملاقات

په سپرلي خېزه خندا
په مکيزونو او په ناز و ادا
ما وه ليدلې په هر رنګ کښې د ځوانۍ د مستۍ
خو اوس چې کله هم په ياد راځي
د "مخه ښه" د وخت تاغيره ګونه
هغه الوتې رنګ او ستړې نظر
هغه د اوښکو ډکې مړاوې سترګې
هغه غمژنه څېره
ما ته ودرېږي داسې
لکه چې مونږه دواړو
د دې نه وړاندې چېرته
يو بل ليدلې نۀ وۀ
لکه چې دا ملاقات
د مخه ښه ملاقات
هم اخيرے وۀ هم ړومبے ملاقات

ketabton.com - The Digital Library

# قطعې

ﻫ

خـومره چـې زمـا د سـره بنـکلې وه
داسې درله بل چا ځواني ګل نهٔ کړه

ستا خو به يقين په ځان د هر څهٔ وهٔ
بيا دې هم بغير زما نه شل نهٔ کړه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ﻫ

لکـه د لمـر پـه پرېوتـو چرچنـې
بڼ ته راټولې شي او شور جوړ کړي

دغـسې هـر مابنـام هـزار غمونـه
اتـڼ زمـا د زړهٔ پـه کـور جـوړ کـړي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

الــوتے رنــګ څيــرې ګرېــوان اودۀ دے
د درد تــصوير زمــا جانــان اودۀ دے

ليکي ئې هر څوک خپل مراد په تندي
پښتون خبر نۀ دے په څان اودۀ دے

د بنګړو شرنګ د رباب ټنګ نۀ راځي
درخـــو اودۀ ده ادم خـــان اودۀ دے

جانــان ګټــل او لمــن ســپينه ســاتل!
دا پــه کــوم خــوب زمــا ارمــان اودۀ دے

د زړۀ د درد قيــصه بــه چاتــه وکـړم
زمکــه بــې هوشــه ده اســمان اودۀ دے

امــين پـرې وايـم کـړي ښــېرې کـۀ دعـا
ديــار پــه نيــت زمــا ګمــان اودۀ دے

بېګــا ئــې ســتا د غمــه شــپه خــوړلې
**ژيــار** چې د ورځې لکه خان اودۀ دے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د کلي لره ده کۀ بره کېږي
هر ځائے په ما او تا خبره کېږي

چې پکښې ستا د ياد چينې بهيږي
زړۀ به مې څنګه د ګودره کېږي

بيا شو رامات لېوني ډلې ډلې
بيا اشارې د بيام د باتره کېږي

هلته به څۀ وي امتياز د مئين!
چېرته چې مينه بې خطره کېږي

زۀ او تۀ هسې خان له سر خوږه وو
فېصلې بل ځائے چېرته بره کېږي

ستر ګه مې نۀ سوزي د بل سرې نه
زما د خپله ځانه يره[1] کېږي

وې کۀ د ستر ګو کۀ د تورو **زيارة**
چې نوم ئې جنګ د ے تل په نره کېږي

---

[1] ډېره

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وخت کۀ مې هر څو بې زنځيره مړوند پرېښې نۀ دے
ما د خپل فکر په وطن قېد و بند پرېښې نۀ دے

زما د ژوند په افسانه کښې دې بې خوږو ياره
چېرته د خدائے دپاره تکے د خوند پرېښې نۀ دے

ما په هر حال کښې ائينه د زړۀ رڼه ساتلې
گرد مې پرې چېرې د شېخانو د پند پرېښې نۀ دے

نور مې زړۀ مۀ سکوندۀ د حسن په نازکو گوتو
د ژوند په شاړو لارو تګ پکښې ژوند پرېښې نۀ دے

د زړۀ ټوټې ټوټې وطن له بېرته څله راځې
د غرور لاس دې پکښې ځائے د پيوند پرېښې نۀ دے

ستا تسلى له به نور څۀ وکړم نور څه پاتې دي
زما چې ياد وو ما ترې يو هم سوګند پرېښې نۀ دے

**زياره** زما په سترې سترې، ژوبل زړۀ کښې
د زغل لا څۀ چې جانان تاب د تولند پرېښې نۀ دے

ketabton.com - The Digital Library

## تپوس

يــــوازې زهٔ نـــهٔ يـــم د ژونــــد پــــه لاره
درسره څـي کـهٔ زړهٔ دې بـل تـهٔ نـهٔ کـړهٔ
خـو دا تپـوس بـه درنـه هـر څـوک کـوي
چې " هغه **زيار** ورک ليونے دې څهٔ کړهٔ"؟

DARYAAB.NET

## ډاډ

د ګرنــــک پـــه ســـر ولاړ وم نــــاخبره
ستـا نظـر پـه تنـد کونو بانـدې سـر کړم
اوس کهٔ لاس نهٔ شي نو ډاډ خو راله راکړه
تسلي چې پرې چـاودونکي زړهٔ لـه ورکـړم

ketabton.com - The Digital Library

# قطعې

ﭬ

ما وئیل خاندي به خوشحاله به وي
هغې زما په غم کښې اوښکې توې کړې

زما د شک د زنځیر کلکې کړه
نازک جانان څه په اسانه پرې کړې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ﭬ

زما د ژوند حالات په خپله داسې
چې یم محتاج ډاډ ته د بل له لوري

خو بیا هم نور خلک د ژوند په دشت کښې
درومي زما د تسلی په سیوري

ketabton.com - The Digital Library

ooo

څه د لويو لويه برخه بس يوه خواري ده
نيش نيمګړې ژوند تېرېږي لنډه تنګه زندګي ده

د وطن په کلي کلي د غمونو بادشاهي ده
هره خوله د وينو ډکه. هره ژبه فريادي ده

چې د بل در ته ودرېږي خبر په خپله روحه غواړي
اې ملنګه لېونۍ کې ځه تمامه دې روزي ده

هوښياري هم عجيبه ده ساده ګي هم عجيبه ده
تا وئيلي تل دروغ دي زما شوې تسلي ده

بس په دې مې غرېږه هسکه بس په دې مې شمله جګه
نه مې سر چېرته ټيټ شوې نه مې کړې بندګي ده

چې اروا مې وږې نه ده چې خدائې زړه راکړې لوئې دے
ما په خپله غريبي کښې کړې تول عمر خاني ده

چې نامه د جانان ناخلې چې تور داغ په تندي نه ږدې
**زياره** ستا ژوند په څه ژوند دے ستا ځواني په څه ځواني ده

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کـهٔ د زړهٔ کـور مـې وډان دے او کـهٔ ړنـګ دے
زمـا کـار د ښائـسـتونو پـه سـر تنـګ دے

کـهٔ دې نـاز دے، کـهٔ غـرور، کـهٔ سـر زوري ده
هـر يـو رنـګ دې هـم زمـا د خوبـسې رنـګ دے

دشت د مینې کهٔ هم مست دے هم ښائسته دے
تـا کـرلے پکـښې بنـګ دے مـا لونـګ دے

سـتا نظـر د ښائـستونو خزانـه ده
زمـا زړهٔ د محبـت د زړو درنـګ دے

DARYAAB.NET دریاب ډاټ نیټ

ketabton.com - The Digital Library

اوس نـهٔ قېـد منـي نـه بنـد پـه کالاباغ کـښې
سيهون څومره چې دے ټول غورځنګ غورځنګ دے

چې د ننګ او د پښتو پـه کـار کـښې غلـهٔ دي
مـا مـدام کـړے لـه داسې خلکو څنـګ دے

پاکـسـتان کـهٔ هـر څـو ډېر پراخـه ملـک دے
زمـا سـاه ده پکـښې ډوبـه زړهٔ مـې تنـګ دے

هـــره شـــپه يـــوه کاســـه ډکـــه د اوښـــکو
مـــا مـــنلې د جانـــان د غـــم قلنـــګ دے

هـېڅ حاجـت ئـې بهرنـي دښـمن تـه نـشته
**زيــار** مودې وشوې د خان سره په جنګ دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

په سر کښې ګل په مخ خالونه نۀ ږدي
جانان مې نور زړۀ ته دامونه نۀ ږدي

اوس مې په تلو راتلو څوک نۀ خبروي
اوس مې په لار کښې مشالونه نۀ ږدي

مینه د سود او زیان پروا نۀ کوي
مئین په زړونو قیمتونه نۀ ږدي

څۀ خو به وي چې ځان په اور سېزمه
هېڅوک په روغ وجود داغونه نۀ ږدي

چې څوک مئین وي په تا ،چېرې به هم
د چا په پښو کښې خپل سرونه نۀ ږدي

د اوسنو بې پیره غلو دلاسه
زیارت ته څوک امانتونه نۀ ږدي

**زیار** د باور بلا خوړلې داسې
نور به د چا په سر شرطونه نۀ ږدي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د یار په سترګو کښې چې کور ګورم
ځان له تهمت ګورم پېغور ګورم

دا زړهٔ هم دغسې پرېږدم بې دوا
بېلتونه نن دې د درد زور ګورم

چې چپتیا ساه ډوبې کړې یمه
ځم دې سرو کوڅو له شور ګورم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دا چې هر ځائے خبرې ښې کومه
ځان له خرابه ورځ په زور ګورم

ستا په غمونو مې زړهٔ نهٔ مړېږي
ډېر مې راغونډ کړل خو لا نور ګورم

چېرته په ښهٔ شپه خو پېښ شوے نهٔ یم!
دا زهٔ چې هر یو شے نسکور ګورم

زیاره چې یاد به وهٔ زما په نامه
اوس په پوښتنو هغه کور ګورم

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د یار په سترګو کښې چې کور ګورم
ځان له تهمت ګورم پېغور ګورم

دا زړهٔ هم دغسې پرېږدم بې دوا
بېلتونه نن دې د درد زور ګورم

چې چېتیا ساه ډوبې کړې یمه
څم دې سرو کوڅو له شور ګورم

دا چې هر ځائے خبرې ښې کومه
ځان له خرابه ورځ په زور ګورم

ستا په غمونو مې زړهٔ نهٔ مړېږي
ډېر مې راغونډ کړل خو لا نور ګورم

چېرته په ښهٔ شپه خو پېښ شوے نهٔ یم!
دا زهٔ چې هر یو شے نسکور ګورم

زیاره چې یاد به وهٔ زما په نامه
اوس په پوښتنو هغه کور ګورم

دریاب ډاټ نېټ DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# قطعې

٭

دغــه خلــک هغــه خلــک
لکــه ســم د اســمان ســتوري

بـل څهٔ کـار روزګـار ئې نشته
خـو بـس مـا او تـا تـه ګـوري

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

٭

چې پـرون مې پـه يـو کـر وهٔ خيـرې کـړے
نـن ګنډمـه ځـان لـه هغـه ګـرېـوان ورو ورو

د اسمـان پـړق وم چې تلمـه بې هوشئ لـه
اوس پـه لوري يم د هـوش راروان ورو ورو

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دې روغــو رالــه راوســتۀ ارمــان د لېونــو
اے خدایـه پـه دې ښـار وکړې باران د لېونو

پــه څیــرې ګرېوانونــو لګېــد لې پابنــدي ده
ګـران شـوے پـه دې کلـي کـښې ګـزران د لېونـو

دا نور خانان خو ټول دي خدائے هوښیارو لـه ورکړي
بـس دغـه یـو "غنـي" وۀ پکښـې خـان د لېونـو

اے څۀ پـرې کـۀ مـزاج د موسـم سـل ځلـه بـرهم شي
کـۀ وړي نـو څـۀ بـه وړي سـېلۍ توپـان د لېونـو

اوس هــم پــه بیابــان ځــي بــې خطــره قــافلې
اوس هـم شـته لاهـو پـر سـتوري پـه آسـمان د لېونـو

اوس ګـوره چـې دا ښـار پـه بلـه اوړي او کـۀ نـه
اے دغــه دے راورســېد کــاروان د لېونــو

دا **زیار** ماته معلوم دے بنۀ په هوش دے بنۀ سم دم دے
خبــرې کــوي هــسې بــس پــه شــان د لېونــو

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دې روغــو رالــه راوســتۀ ارمــان د لېونــو
اے خدایه په دې ښار وکړې باران د لېونو

پــه څیــرې ګرېوانونــو لګېــدلې پابنــدي ده
ګران شوے پـه دې کلـي کښې ګزران د لېونـو

دا نور خانان خو ټول دې خدائے هوښیارو له ورکړي
بس دغـه یـو "غني" وۀ پکښې خـان د لېونـو

اے څۀ پرې کۀ مزاج د موسم سل ځله برهم شي
کۀ ورې نـو څـۀ بـه ورې سېلۍ توپـان د لېونـو

اوس هـم پــه بیابــان ځــي بــې خطــره قــافلې
اوس هم شته لاډېر ستوري پـه آسمان د لېونو

اوس ګـوره چــې دا ښــار پــه بلــه اوړي او کــۀ نــه
اے دغــه دے راورســېد کــاروان د لېونــو

دا **زیار** ماته معلوم دے ښۀ په هوش دے ښۀ سم دم دے
خبــرې کــوي هــسې بــس پــه شــان د لېونــو

ketabton.com - The Digital Library

ooo

توپیر ګران دے اوس د خپل او د پردي رنګ
خلک سترګو له په خپل جوړ بدلوي رنګ

خدائے په زمکه یم له خاورو پیدا کړے
په رنګونو کښې مې خوښ دے اسماني رنګ

خدایه څه ګرانه خبره کول غواړي
د جانان په مخ چې داسې ځي راځي رنګ

هغه زړۀ ته د درد لاره نۀ جوړېږي
په دعا چې کوم د ښکلو د خولو وي رنګ

ښتونخوا به د رنګونو خزانه وي
کۀ رښتیا وي په رښتیا وینې راوړي رنګ

داسې ورو ورو مې د زړۀ زور راکمېږي
لکه تیوکے چې د وخت سره پرېږدي رنګ

**زیار** له سپینه ویښا سم د بوډۍ تال کړي
هر سړے د خپلې خوښې ورکوي رنګ

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

هغه کهٔ نهٔ راځي پښتو نیولې
زهٔ هم وختونو یم له پښو نیولې

اوس ما له غم د زنځیرونو کوه
ستا د بنګړو شور خو سلګو نیولې

دلته بې ښې بې بدې هم ځي راځي
غم مې د زړهٔ کللې په ښو نیولې

دا خو زما زړهٔ دے چې نهٔ پخېږي
تا خو تول عمر په لمبو نیولې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

نور څوک لاځه ما ورته هم نهٔ پرېږدي
د زړهٔ وطن مې ښاپېرو نیولې

هسې بې ځایه د ځان غته وایو
د ژوند سنګر رانه وړو نیولې

**زیاره** د لمر رڼا به تته وي نن
اسمان مې ګرد د اسوېلو نیولې

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

شین په زړۀ جانانه او ګلګون په سر
ما اخستے غم د ے د پښتون په سر

نن چې مې د نن د سیالۍ وړ نۀ وي
څو به پتېکے کوږ بردم د پرون په سر

مینه تقاضا د عقل هم کوي
نۀکېږي یوازې د جنون په سر

هره ورځ د خوبه چې پاڅو سحر
وي راته ولاړ نوے بدلون په سر

ketabton.com - The Digital Library

څنګه به څهٔ نهٔ وېم چې دا نور خلک
ږدي د وهم پېټي د پښتون په سر

وخت کهٔ پرېږدو خپلې ته، يقين لره
ږدي خزانې نورې د قارون په سر

ټول د زمکې سر ئې کړهٔ ارمان ارمان
شرق د اسمان پرېوځه د بېلتون په سر

لاخو د سرې سينې خبرې دي
لاخو راته پروت دے بلا يون په سر

**زياره** کهٔ مئين ئې ستم پرې مهٔ کوه
خاورې دي باد کړې هر مجنون په سر

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د ژوند لاري په ولقه د غلچکو دي
ارمانونه د منزل مې په سلګو دي

ستا کهٔ زړهٔ په ما راتول نهٔ شهٔ جانانه
امېدونه زما هم په خوږېدو دي

وينې وينې دي خو بيا هم خندني دي
دا زما د زړهٔ زخمونه د ليدو دي

رب نهٔ راوړي زما په بله ژبه
ما مدام خبرې کړې په پښتو دي

محبت له سرې لوئې پهلوان جوړ کړي
ګنې دا غمونه خدائيږو کهٔ د وړو دي

په دې پرښت پسې د مال ئې تل ژبې وي
دا مالدار خلک د زړهٔ د سوزېدو دي

**زيار** د هغه خولو نه غواړي دعاګانې
چې عادتې د پخوا نه په ښېرو دي

دریاب دات نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

زړۀ لــه د شــېخ هــم اراده ځــي راځــي
دا چې ډېــر ډېــر پــه مېخانــه ځي راځي

لکـــه د ســـاه وېنې اوده نــــۀ پېژنـــي
يـاد دې کـۀ ورځ وي او کـۀ شپه ځي راځي

کـــور د زړۀ پـــوخ پــه غــم پــسې لېکمــه
دے بــه تــر څــو لکــه مېلمــه ځي راځي

اوس دې پـــټ پـــټ کاتــۀ هــم نــۀ پتېــږي
اوس مـــې د زړۀ ســـره سينه ځـــي راځـــي

يـــوازې مـاتـــه ګوتـــه ولــــې نيـــسې
خلـک دې نـور هـم پـه کـوځـه ځي راځـي

د ســـــترګو اور تـــــه دې لمــــن د بنـــو
وهــه چـې زړۀ تــه مــې لمبـه ځــي راځــي

**زيـار** لـه ورکـړې ده خـدائے لويـه سينه
غــم تــه دې وايــه چــې ډاډه ځــي راځــي

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

بې لـه خندا بې لـه نغمو نهٔ کېږي
ژوند تول عمري په اسوېلو نهٔ کېږي

زما لاڅه چې ستا د تلو نه وروسته
خندا تـه زړهٔ د ګـل غوټو نهٔ کېږي

اخـر د زړهٔ وينڅـل دي تـوقې نـهٔ دي
اوښکې به غـواړي په اوبو نهٔ کېږي

مينه کښې ډېره ډېر څه کول دي په ځان
تش د يـو زړهٔ پـه خوږېدو نهٔ کېږي

زړهٔ او سـينه غـواړي د ژوند دردونه
دا پـه ژړا او پـه سـلګو نـهٔ کېږي

مـا تـه د يـار د پېـوي تـار لـوګـې کـړئ
زمـا عـلاج پـه سـپېلنو نـهٔ کېږي

يـو لاس بـه مخکښې وړو بـل وروستـه **ژيـاره**
د مينـې لوبـه پـه اودو نـهٔ کېږي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

څوک چې په لاس کښې ائينه ګرځوي
مخ د هغوي نه زمانه ګرځوي

لامې د لمر رڼا ليدلې نۀ ده
لامې نصيب په توره شپه ګرځوي

حالات د مينې د غمونو ژړنده
زما د وينو په وياله ګرځوي

دریاب ډاټ نیټ

چېرته مې غلا د نظر سپيازه نۀ شي
ماله به نن په سر کوزه ګرځوي

DARYAAB.NET

ماته يوه جانان ته بله وائي
خلک په خولۀ کښې ژبې دوه ګرځوي

ما چې توبه کړه خدائے سخي کړۀ جانان
راپسې لے په لے پياله ګرځوي

**زيار** د وفا په نامه سر ورکړے
حق لري جګه کۀ شمله ګرځوي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

داسې مې زړۀ بنګړي بنګړي هم نۀ دے
چې ستا د مينې ارماني هم نۀ دے

کۀ ژړا نشته، ساندې نۀ راځي
وخت د رباب او د منګي هم نۀ دے

تکنړے زړۀ مې په وعده د جانان
کۀ شکي نۀ دے باوري هم نۀ دے

اختيار د خپل وطن زما په لاس کښې
د ګل لاخه چې د ازغي هم نۀ دے

کۀ د خزان ګمان پرې نۀ کوومه
دا سام سيمام د پسرلي هم نۀ دے

**زيار** کۀ د هوش سره پاللې نۀ ده
تلے په پل د لېوني هم نۀ دے

دریاب ډاټ نیټ DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

په دروغه د راتلو ئې اوازه شوه
د دیدن تنده مې هسې یو په دوه شوه

اوس به یا د د جانان کوم سیوري له ورمه
د زړهٔ خوني خو مې اور واخست لمبه شوه

چې ئې ستا په انتظار کښې روڼه اومه
کهٔ د اوړي شپه ده هم بلا اوږده شوه

ستا د تلو سره مې ټول رنګونه لاړل
د سندرې نه مې جوړه مرثیه شوه

**زیاره** خوب ئې هر کلي له ورلېږمه
د یار غم به راروان وي شپه پخه شوه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# دعـــا

د افغانستان د پخواني صدر، روښن فکره او مترقي شخصيت خدائے بخښلي ډاکټر نجيب الله د قتل او بيا د هغهٔ د مړي سره د ناروا سلوک په تاثر کښې

۱۹۹۶\۹\۳۰

دا پښتانهٔ
دا لېوني وګړي
دا ځان دښمنه خلک
په داسې چا پسې ځي
څوک چې ا ودهٔ دي د جنون په غېږ کښې
څوک چې بېدار خلک په کانو ولي
څوک چې رڼا او نور ته لارې نيسي
څوک چې تهذيب د سره پېژني نهٔ
څوک چې د خاورې مينه،
څوک چې د قام محبت،
بولي د سکوتې بې ديني خبرې
څوک چې د جهل په سر
څوک چې د وهم په سر

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

هم دي اباد او هم دي ښاد تر اوسه
دا پښتانهٔ
دا لېوني وګړي
په داسې چا پسې ځي
چا چې خوار کړي دي تل
چا چې ډوب کړي دي تل
خدايه
اے لويه خدايه
دا پښتانهٔ پوهه کړې
چې نور په دغه دښمن
ګمان د خپل نهٔ کوي
چې نور د دغه دښمن
په لاړ مزل نهٔ کوي
خدايه
اے لويه خدايه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

درياب ډاټ نيټ
DARYAAB.NET

ooo

زۀ په ځان پوهېږم درد پېدو ته مې زړۀ شوے دے
ستا خواله جانانه چې درتلو ته مې زړۀ شوے دے

نوے الزام ولګوه نوے تور را پورې کړه
بيا شوم لېونے زړو قيصو ته مې زړۀ شوے دے

څه چې دواړه لاړ شو هغه پورې غر ته وخېژو
ساه مې ډوبه شوې ده تېږو ته مې زړۀ شوے دے

بيا مې په څنګل د يار، د خوب ارمان وېښ شوے دے
بيا يم پاګل شوے شوګېرو ته مې زړۀ شوے دے

ketabton.com - The Digital Library

نن چې شي زېړے مازيګر بيا درځم ګودر پله
ستا د خولې خوږو خوږو ښېرو ته مې زړۀ شوے دے

تاج د بادشاهۍ مې د نظره غورځېدلے دے
کن کچکول او ستا د چم کوڅو ته مې زړۀ شوے دے

بيا راته د سترګو ډيوې بلې کړه لمبه مې کړه
بيا يم پتنګ شوے سوزېدو ته مې زړۀ شوے دے

ذکر په وعده د نۀ راتلو ورته په دې کووم
**زياره** د دروغو اورېدو ته مې زړۀ شوے دے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

لاړ د پښتون پټکي د شان ونیسه
وخت ته ځولۍ مه نیسه ځان ونیسه

لاد جانان د راتلو ورځې نه دي
لاپه سینه پورې ارمان ونیسه

زه امتحان د خپل غرور اخلمه
په دواړه لاسه مې ګرېوان ونیسه

د جومات کوټ دې وي که بل څه نه وي
خو په نامه ئې د جانان ونیسه

د زمکې سر دې ځان ته سره لمبه کړه
**زیاره** اوس څه لاړ د اسمان ونیسه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نــهٔ یــم د زړهٔ تکــوره نــهٔ یــم خبــر
زهٔ د خپــل ســپین او تــوره نــهٔ یــم خبــر

داســې بــې ســوله او بــې ځانــه یمــه
وســوم بیــا هــم د اوره نــهٔ یــم خبــر

چا دې رنګ نور کړهٔ چا کړې کرښې کرښې؟
اے د وطــن انځــوره نــهٔ یــم خبــر

نــور زورور کمــزوري تــول پیــژنم
یــو د خپــل ځــان د زوره نــهٔ یــم خبــر

نــور پکــښې څـه دي ستا لــه یــاده ســېوا
دومــره د زړهٔ د کــوره نــهٔ یــم خبــر

لګیــا یــم بــل لــه ســپینوم لمنــه
د خپــل تنــدي د تــوره نــهٔ یــم خبــر

**زیــاره** د خپــل زړهٔ پــه دړزا کــښې ورک یم
زهٔ د دنیــا د شــوره نــهٔ یــم خبــر

دریاب ډاټ نېټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

## په دویم پښتو عالمي کانفرنس ۲۰۰۰ء کښې د پروفېسر پرېشان خټک د تقریر په تاثر کښې

د پرونـــي مغـــل د سر دښـــمن یـــم
د ننـــــي مغـــل پېـــزار ســـــووم

د ورځې ژاړم کنګال کور د پښتون
د شـپې د غلـو ډلـې تـه لار سـمووم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د ارمان په ځلې ناست یم تویوم اوښکې رودونه
د سلګو په حساب شمارم د ریښې ګریوان تارونه

د خوږو خوږو یادونو شهزادګۍ پکښې اوسېږي
خدائے دې نهٔکړي چې پېوند شي د زخمي زړهٔ پرهرونه

چې ستا یاد مې زړهٔ له راغے اسوېلي مې د خولې لاړل
بیا مې ځان ته راتازه کړل ایره مخي انګارونه

د حساس ذهن په چم کښې د ارمان د سلګو شور دے
وارخطا ځغلي راځغلي جانانه خوږمن یادونه

یوه کرښه ئې هم نهٔ ده د جانان په لوري تلې
نجومیانو مې کتلي په ډېر غور دي لاسونه

هره شپه چې رڼا مړه کړم تصور له غاړه ورکړم
ستا د کور په بتکو بل کړم د یادونو مشالونه

کم په څهٔ د **زیار** تند ے د ے د اسمان د کهکشانه
هلته څومره چې دي ستورې. دلته هغومره داغونه

ketabton.com - The Digital Library

ooo

هغوي سبا نۀ لري نن نۀ لري
څوک چې اختيار د خپل وطن نۀ لري

لکه چې زۀ ئې لرم ستا دلاسه
بل څوک به داسې زړۀ غمژن نۀ لري

څۀ به ئې وسېزي په اور د مينې
زړۀ په سينه کښې ګلبدن نۀ لري

لکه پښتون به جهادونه کوي
څوک چې هنر نۀ لري، فن نۀ لري

هغه سړے په سړي نۀ دے حساب
د مينې داغ چې په لمن نۀ لري

خپل ليونے جانان مې خوښ دے په دې
چې تند ے ګونجې زړۀ خيرن نۀ لري

پس د پوره سجيله پوه شوم په دې
**ژيار** بې له څانه بل دښمن نۀ لري

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کور کۀ مې هر څو د زړۀ وران پروت دے
ستا په کښې ياد لکه د خان پروت دے

زما د اوښکو د بوډۍ په تال کښې
ستا د رنګونو ټول داستان پروت دے

ستا په راتلو مې شمله جګه داسې
وېم کۀ په پښو کښې مې اسمان پروت دے

زما په زړۀ کښې ستا تصوير تر اوسه
لکه چې وۀ په هغه شان پروت دے

وېم چې مې ښکل کړې د دې دشتې کانې
ګرد پرې د مينې د کاروان پروت دے

تا چې وعده لا پوره کړې نۀ ده
نيمګړے خود زما ارمان پروت دے

اوس هم هغې کوڅې له ځمه **زياره**
چېرته چې تار تار مې ګرېوان پروت دے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

# نیمګړې

دا دردونــــه دې وې داســـې
دا غمونـــه دې وې داســـې
تندکونـــه دې نــور هـــم وې
جنجالونـــه دې نـور هــم وې

خو چې زۀ نیمګړې نۀ وې

دا مـــــنم، پــــه دې پــــوهېږم
چې وي هر ســړې نیمګړې
خـــو پـــه یــو اړخ نیمګـــړې
یـــا پـــه بـــل اړخ نیمګـــړې

دا یـــو زه ستـــا بیلتانـــۀ کـړم
پـــه قـــدم قـــدم نیمګـــړې

زمـــا زړۀ پـــه تـــا نیمګـــړې
زمـــا تـــول پـــه تـــا نیمګـــړې
زۀ نیمګـــړې، زۀ نیمګـــړې
زۀ یـم تـول پـه تـا نیمګـړې

دریاب دات نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وختونــه بــد وي او کــهٔ ښــهٔ تېرېــږي
اړ نــهٔ وي هــېڅ د چــا پــه زړهٔ تېرېــږي

چې پـه نامـه ئـې د جانـان ښـښـي سـړے
د زهــرو ګــوټ لکــه اوبــهٔ تېرېــږي

دعــا ســلام راســره هــم نــهٔ کــوي
پــه دې راڅــي خــوچــې خولــهٔ تېرېــږي

نــن امتحــان دے د مجنــون د مينــې
جــنج د ليلــئ نــې پــه کلــهٔ تېرېــږي

لارې د زړهٔ مــې شــارې شــوې نــهٔ دي
اوس پــرې هــم ستا د غــم ســوارهٔ تېرېــږي

بــس دا يــو داغ د بېلتانــهٔ کــهٔ نــهٔ وے
نور د خدائے فضل دے ژوند ښهٔ تېرېږي

**زيـاره** چې غـم د جانـان نـهٔ لـري څـوک
د هغــوي شــپې ورځــې پــه څــهٔ تېرېــږي؟

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کـه ورکــووم نــو څــه بــه نــور ورکــووم
پـه خـوږ نظـر کـښـې د زړهٔ کـور ورکـووم

نـن بـه مـې دار لـه بیـا ښـې، وژنـې بـه مـې
نـن یـم خوشـحاله د ژونـد پـور ورکــووم

زهٔ پـه بـدل کـښـې د سـپین پوشـې زاهـد
خدائے شـته کـهٔ خپـل د لمـن تـور ورکـووم

دریاب ډاټ نیټ

سـتا نـه بغیـر چـې خـم پـه کومـه لاړه
ځـان لـه پـه هـر قـدم پیغـور ورکـووم

DARYAAB.NET

د زړهٔ درزا لکـه سـتورې ډمـــامې
د خاموشـې سـینې لـه شـور ورکـووم

چـې د لاس کرښـو تـه ناسـمې نـهٔ وېـم
نـور بـه پـه څـهٔ زړهٔ لـه ټکـور ورکـووم

څـوک کـهٔ تـصویر غـوارې د مینـې د درد
زهٔ بـه د **زیـــار** د زړهٔ انځـور ورکـووم

ketabton.com - The Digital Library

ooo

لاړې ښـې نـۀ دي تـرګمې دے مـۀ څـه
سـورے سـورے زړۀ مـې نـرے دے مـۀ څـه

خـدائے خبـر څـۀ مخـه پېـښېږي سـبا
وخـت خـو د بـل د لاس غـرګے دے مـۀ څـه

زمـا پـه بـل چـا سـترګې نـۀ خـوږېږي
ماتـه هـر څـوک پـردے پـردے دے مـۀ څـه

زمـا پـه کـور چېرتـه پـه ژوند کـښې يـو څـل
راغلـے سـتا سـره سـپرلے دے مـۀ څـه

د بـل چـا دم وربانـدې نـۀ چلېـږي
پـه زړۀ مـې ناسـت داسـې پېـرے دے مـۀ څـه

پرېـږده چـې وائـي څـوک کـۀ هـر څـۀ وائـي
دا چاپېرچـل ټـول لېـونے دے مـۀ څـه

نـور ئـې د مـېـچ د ټينګولـو څـوک دي
**ژيـار** خـو بـس يـو پـه تـا سـړے دے مـۀ څـه

DARYAAB.NET دریاب ډاټ نیټ

ketabton.com - The Digital Library

ooo

ما ورته وېلي[۱] هر کلي ما پرې ژړلي نهٔ دي
د غم په جوړ مې د جانان غم ته کتلي نهٔ دي

داسې بې ښې بې بې بدې سوړ مازيګر مهٔ راکوه
کهٔ نور څهٔ نهٔ وي نو ښېرې خو چېرته تلي نهٔ دي

دا قيصه ښېله ده چې مخ د يار سرخي نهٔ نيسي
زما د زړهٔ زخمونه وا دي ما ګنډلي نهٔ دي

دریاب ډاټ نیټ

هغه ماښام مې په خپل ژوند کښې حساب کړے نهٔ دے
په کوم ماښام چې ستا د غم سوارهٔ راغلي نهٔ دي

ما پرې جانان له بدو سترګو په امان ساتلے
DARYAAB.NET
ما د خپل ژوند سپرلي بې ځايه لوګولي نهٔ دي

په لپو اوښکې په کاسو وينې په دې کوڅه کښې
کوم هغه کال دے چې ما هره ورځ شندلي نهٔ دي

هر څهٔ مې پرېښوهٔ په تکړي د محبت خو **زياره**
داسې يم خوښ لکه چې هېڅ مې هم بائيللي نهٔ دي

---

[۱] وئيلي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

خوښه ئې بد کوي که ښه کوي څوک
دلته تپوس د چا نه نه کوي څوک

چې نن يوه سبا له بله وائي
باور به څنګه ستا په خوله کوي څوک

هر سړی تنده د نظر ماتوي
د ګل په ژوند خبره نه کوي څوک

دریاب ډاټ نیټ

دا چې په هر قدم تندک دی پکښې
قيصه زما د ژوندانه کوي څوک

DARYAAB.NET

هغه لا اوس هم په اوږو ګرځووم
لوبې چې تل زما په زړه کوي څوک

د هغه خلکو سره خوند کوي ژوند
چې پرېوته او پاڅېده کوي څوک

**زیاره** دا شعر نيم که هم نه ليکي
ته نور د څه ئې په تا څه کوي څوک

ketabton.com - The Digital Library

ooo

داسې ماښام داسې سحر نه راځي
چې يو نه يو د غم خبر نه راځي

تل چې مې خواته وه د سيوري غوندې
اوس مودې وشوې په نظر نه راځي

دا زما زړه به قرار څنګه مومي
چې ستا د لوري خبر خبر نه راځي

زه ئې راغوارمه په ځان پسې تل
کور ته په خپله د چا شر نه راځي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

اوس په سر نه ده په هنر ده لوبه
ډېر يم خو زېر يم چې هنر نه راځي

زما تورزن جانان توبه ايستلې
هر پله ځي خو په سنګر نه راځي

لکه چې زيار هم په ځان وو پرېده
څو ورځې وشوې په ګودر نه راځي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کـهٔ غــوارم نــهٔ هــم، زهٔ بــه تــا تــه ګــورم
دلتــه نــور څــوک دي نــور بــه چــا تــه ګــورم

د مــستۍ نخــښې پکــښې تتــې ښــکاري
زهٔ چــې د دې ســپرلي هــوا تــه ګــورم

د محبــت پــه نامــه هــر څــهٔ کــووم
نــهٔ ئــې جــزا نــهٔ ئــې ســزا تــه ګــورم

نــورو د ژونــد جنــت کــړهٔ برخــې برخــې
زهٔ لا پــه وېــره وېــره هغــې مــلا تــه ګــورم

وېم کهٔ څـوک غږ راکړي چې "مـهٔ خـه راځـه"
څــم چــې د يــار لــه کلــي شــا تــه ګــورم

پــه يــو نظــر نــهٔ کېــږي دواړه کــاره
خــان تــه بــه ګــورم يــا بــه تــا تــه ګــورم

د فکــر پېــتې چــې ئــې ږدمــه پــه ســر
**زيــاره** اول د غــزل مــلا تــه ګــورم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

د جانان لیک ده په تندي خوشحالي
چېرته چې ځي هلته به وري خوشحالي

ما وي د خټ په سر اېښودې مدام
ماته به څنګه څوک پرېږدي خوشحالي

اوس مې د غم سېره مېلې دي زړه
اوس که راځي که نه راځي خوشحالي

چېرته په هېره هم په دې نه راځي
ته به وئې دلته خلک خوري خوشحالي

په مینه مړ شوم راژوندی شوم ایله
زما دښمن په څه کوي خوشحالي!

زه په تلې کښې پسې سرګرځووم
تاله په خپلو پښو راځي خوشحالي

**ژیار** د سپرلي سپرلي جانان دپاره
په خپل خپه زړه کښې ساتي خوشحالي



DARYAAR.NET

ketabton.com - The Digital Library

# د تاج العالم لالا په مرګ

درياب ډاټ نيټ
DARYAAB.NET

دا زما په زړهٔ چې ستا د غم پرهر دے
زور ئې نهٔ لرم د توانه مې بهر دے

خلک وائي سل دې وومره يو دې مهٔ مرهٔ
زما يو تلے د مرګ په لوئے سفر دے

خيال مې نهٔ دے کهٔ ترې تول عمر راووځم
غم دې نهٔ دے بې پاياوه سمندر دے

چې تهٔ نهٔ ئې همېشه به وي نيمګړي
کهٔ اشر دے، کهٔ غوبل دے، کهٔ اختر دے

ketabton.com - The Digital Library

چې يو ته ورپکښې نهٔ ئې داسې ښکارې
لکه پروت کنډر کنډر چې پېښور دے

ستا د ژوند او مرګ قيصې ته چې پام وکړم
د ازار پکښې څهٔ نښته خو نظر دے

ستا بچي، ستا د ټبر همه وګړي
په تا وياړي ستا د نوم تاج ئې په سر دے

پښتنه خاوره به څهٔ رنګې تا هېر کړي
تا پرې کړې تل د فهم و شعور کر دے

چې ډېر عمر دے ستا خواته پاتې شوے
**زيار** په دې حقله کهٔ وائې بختور دے

۲۰۰۵.۱.۲۱

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کـهٔ یـو جنـت تـه هـم خـو خـو ربشـتیا خبـره دا ده
زمـــا لاره جـــدا ده. د مــــلا لاره جــــدا ده

اوس کور د جانان هم پکښې په ګرانه راپیدا کړم
زما د زړهٔ دنیـا کـړه وخت پـه داسې رنـګ بربـاده

چې خـال ئـې د تنـدي نهٔ شي. نکریـزه د لاسـونو
دا ستـا وینـه اے زړه نـوره د کـوم مـرض دوا ده

د چـا راسـره کـار څـهٔ وهٔ. کـاواکې کـهٔ مـې نـهٔ وې
ربښـتیا دي چـې دا خپلـه خولـهٔ قـلا ده هـم بـلا ده

مودې وشوې پـه اور کښې دې ولاړ خـو چې رقیب دے
والله کـهٔ یخـه شـوې مـې تـر اوسـه پـرې لاخـوا ده

ketabton.com - The Digital Library

د مينې د جاګير سر مې په خدائے کۀ څوک معلوم کړي
کـۀ نـوره شـتمني راسـره ګـوري خبـر سـلا ده

زاهـده پـه جنـت کـښې بـه پرانـستي تـې ګـرځم
ترلـي مـې تـول عمـر د خوارانـو سـره مـلا ده

ويـشتلے چې ئـې هـر ځلـې د سـترګو پـه ګولـو يـم
ختلـې مـې د خـولې نـه ورتـه هـر ځلـې دعـا ده

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د زوره کـۀ د زړۀ د ماتېـدو چېرتـه خبـر شـوې
"د سـر پـه ماتېـدو بـه شـکر اوباسـې فرهـاده"

د خـدائے د نـازولې بنده شـک مـې پـه ځـان کېږي
سـر شـوې مـې تـول عمـر بې غوښـتنې مـدعا ده

هـر ځـل ئـې اپوتـه ولـې هـر ځـل سـمه پرېـوځي
د **زيار** سره. حېران يم. چې د کومې خولې دعا ده

ketabton.com - The Digital Library

ooo

لنډه د ژوند د درد قیصه کړه سترې شوې یمه
ورونه کړه پورې، ډیوه مړه کړه سترې شوې یمه

سحر مزل. ماښام مزل ټول عمر لاړه او زه
چېرته یو وخت نیم مې دمه کړه سترې شوې یمه

زما د ډېر عمر ارمانه مروره خوبه
نن مې اوده یوه شېبه کړه سترې شوې یمه

لږ مې د خپلو زلفو یخ سیورې ته کښېنوه نن
وچه د مخه مې خوله کړه سترې شوې یمه

زما ساقي زما د خمې وربالۀ جانانه
راشه ما غرق غرقاب نشه کړه سترې شوې یمه

نورې دا یو خوا کله بل خوا منډې مۀ راکوه
منزل مې یو لاز مې یوه کړه سترې شوې یمه

د خپلې لارې یو یو تن راته په ډاګه اووې
"**زیاره** نور لوئې الله امره کړه سترې شوې یمه"



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

بس قلار شه د زړۀ سره چې څۀ وشو هغه وشو
نور مې پرېږده بې خبره چې څۀ وشو هغه وشو

لاړ زما لالے ئې مړ کړۀ په چاړۀ کۀ په چاقو وۀ
پرېږده نوره دا خبره چې څۀ وشو هغه وشو

هر اندام مې زخم زخم هره ساه سلګۍ سلګۍ ده
اوس به څۀ وکړم په زغره چې څۀ وشو هغه وشو

ځئ چې نوې تپه وکړو ځئ چې نوے ساز پېدا کړو
د دې خاورې په سندره چې څۀ وشو هغه وشو

DARYAAB.NET

اور دې پاتې پښتونخوا ته راخورېږي زۀ ئې وینم
د امو نه تر خېبره چې څۀ وشو هغه وشو

جنګ د لاده باده پرېستو جنګ تباه کړو جنګ برباد کړو
نور به ځان ساتو د شره چې څۀ وشو هغه وشو

نور په خپلو اوږو نۀ ږدو د پردو خلکو ټوپکې
**زیاره** دغه لاړ ده غوره چې څۀ وشو هغه وشو

۲۰۰۵ ۱۰ ۲۵

ketabton.com - The Digital Library

ooo

مینه چې لاړه شي د ښاره ووځي
د کار سرې پکښې د کاره ووځي

داسې غمونه به څوک څه وپالي
چې یو درانه شي بل د شماره ووځي

په دې الغاو تلغاو کښې بده نه ده
د چا که ساه هم په قلاره ووځي

د دنیا سود دے که د خوږو سودا
بیخ دې د دوارو ستا د پاره ووځي

چې ستا په مخ د اوښکو رود راشي
زما په کاني زړه کښې لاره ووځي

چې را په یاد شي خپل بائیللي جانان
څړیکې د زړه نه مې بې واره ووځي

نبض د ژوند په ځائے ولاړ واخله
خدائے مه کړه **زیار** که د خماره ووځي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نـۀ ئـې پـه زور نـۀ پـه ظلمونـو غـوارم
باچـايي غـوارم خـو پـه زړونـو غـوارم

د کهکـشان هـسې مـې داغ کـړه تند ے
زۀ هـم سـيالي د اسـمانونو غـوارم

چـېـرې دې سـر د دعاګـانو نـۀ وۀ
اوس دې ښـېرې پـه زيـارتونو غـوارم

لاخـو وخـت نـۀ د ے د ګرېـوان د تپـوس
خبـر د دې پـاتې خـو تـارونو غـوارم

د کټ کۀ پيارمې ته ځائې وشي د بر د ے
چـا وې چـې خـوب پـه پـالنګونو غـوارم

زۀ د خپـل ساندې سـاندې عمـر پـه روي
د جانـان ژونـد پـه اتڼونـو غـوارم

خپـل پرهوتـل بـه ژارم وروسـته زيـاره
اول رقيـب پـه تنـدکونو غـوارم



DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

کـــهٔ خنـــدا راشـــي کـــهٔ ژړا راشـــي
تـهٔ را پـه يـاد شـي ارمـان سـتا راشـي

اوس ئـي هـم لاړ پـه دې اسـره ځارمـه
کهٔ بل ځائے خوښ نهٔ شي او بيـا راشي

چـې د زړهٔ درد رانـه شـناخت وغـواړي
خـولې لـه بـې واره پـښتونخوا راشـي

زړهٔ مـې نيـولے سـتا د غـم منـزري
خدائے شته که بل غم ئې په خوا راشي

دوه ګامـه څـهٔ پـه پـردې لاره لاړم
راشـه اوس ځائے لـه کهٔ مې سـاه راشي

رقيـب کـهٔ هـر څـهٔ کـوي لاس ئـې ازاد
چېرتـه يـو ځـل بـه وار زمـا راشـي

ګوره چې دا ځل زيـار يـوازې نهٔ کړې
خـدائے مـهٔ کـړه بـده ورځ کـهٔ بيـا راشـي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وړے په خپل کور د خپل اختیار یمه
نۀ په زړۀ انګرېز یم نۀ تاتار یمه

اوس مې کړۀ د سره ځان په نیشت حساب
اوس د یار غمونو ته وزګار یمه

ستا په تکل ګرځم په دشتونو کښې
هر څو کۀ بې لارې یم، په لار یمه

څۀ به ئې نشه وي څۀ به وي شراب
زۀ عادت د مینې د خمار یمه

زۀ لکه ګرېوان د لېونې سړي
ټول رېښه رېښه یمه تار تار یمه

ما ازغي په سترګو کښې ټومبلي دي
ستا د ګل نظر په انتظار یمه

داسې زړۀ نا زړۀ چې دې راوکاتۀ
وۀ دې جوړې نۀ پېژندم، **زيار** یمه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

درياب ډاټ نيټ
DARYAAB.NET

سـم د زړهٔ د تلـه راتـه نـه کـوي نـهٔ ښـه کـوي
کړي چې څهٔ نهٔ دي پښتنو، جانان هغـه کـوي

خبر دے کهٔ جانان مې دار له بيائي په دې نهٔ يمه
وژني مې بس دا چې رقيبان مې تماشـه کـوي

زهٔ لکه دريمګړے ورته ښه کووه ځائے په ځائے
ماته چې جانان زما د خپل زړګي قيصه کوي

داسې نو په مړ ئې لاهم نهٔ يم حساب کړے
کلـه کلـه اوس هم پـاس لـه بامـه اشـاره کـوي

ketabton.com - The Digital Library

داسې په هنر هنر مې سېزي يار د زړۀ وطن
نۀ ئې د لوګي څۀ پته لګي نۀ لمبه کوي

ما وي شپه خوړلې ستا د غمه، په تالو څمه
خلک لېوني دي وائي داسې نشه کوي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

اوس مې هم زړۀ هغه رنګې دے لکه چې وۀ څنګه
اوس هم ستا غمونه خوري او خپله ګوزاره کوي

**زيار** له نرے کړے سنګين زړۀ دے بېلتانۀ داسې
ژاړي د دښمن سره چې هم په مخه ښه کوي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

وخت کۀ شي نور هم ستا قیصه به تېره هېره نۀ کړم
د غم په وېش کښې به دې ځان بهر د شمېره نۀ کړم

هم هغه وشوه دې خپل زړۀ راسره وکړه کنه
ما خو به وې چې زۀ د بل د ښمنه وېره نۀ کړم

په وردننه کۀ زۀ ټول لیتکې شم نو څۀ!
څو چې رڼا خوره په چم کښې ګېر چاپېره نۀ کړم

څوک به څه پوه شي چې مئین څه وي او مینه څۀ وي
کۀ خزانې د زړۀ د درد مې رابرڅېره نۀ کړم

د مئین توب دعوی به هسې په دروغه کووم
تا کۀ خبر د زړۀ د باب د زور او زېره نۀ کړم

سرې شي کلک د حده وتې چې په سر ئې راشي
ما وې یوه شپه به هم بې جانانه تېره نۀ کړم

زۀ اموخته یم په خوږو **زیاره** د مینې د درد
برخه به کمه ځان له نۀ کړم کۀ ئې ډېره نۀ کړم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

چې پکښې ذکر د دلبر نهٔ کوي
د شیخ وینا په ما اثر نهٔ کوي

په ما دې دومره ډېر دروغ وئیلي
اوس مې په خولهٔ خلک باور نهٔ کوي

څهٔ به کوي نور د کولو څهٔ دي
درد کهٔ مې هم د زړهٔ پرهر نهٔ کوي

خدائے خبر ولې، ډېر کلونه وشو
اختر راځي خو څوک اختر نهٔ کوي

لکه چې شمار په لېونو کښې ئې کړم
هر څهٔ کهٔ وېم راسره شر نهٔ کوي

څومره شملې مې ورته ټیټې کړلې
هسې به ناز زما په سر نهٔ کوي

**ژیار** په سور اور کښې هم په ځائے دے ولاړ
ځان له څهٔ غم د روګودر نهٔ کوي

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

## د

## پروفېسر ډاکټر صاحب شاه صابر په مرګ

اې زما يــاره صــابره، اې د ژونــد د ســيالو ســيالــه
اې د پت د کـاروان مېـره، اې د ننګ غـېـرت مثالـه

تهٔ خو ځوان وې بوډا نهٔ وې سر دې تور وهٔ برېت دې تور وو
څهٔ قيامت به وهٔ راغلے کهٔ ژوندے وے يو څو کالـه

هم د دغه شپې ماښـام وهٔ چې ډېر څه دې راتـه اووې
خو تهٔ ګوره دا دې نهٔ وې چې زهٔ تلونکے يم بېګا لـه

کهٔ د فکر کهٔ د فـن وې اوس چې زهٔ لـه پټلۍ پرېـوځم
څوک به ګوته راته نيسي څـوک بـه ټـک راکـوي مالـه

ketabton.com - The Digital Library

ما او تا همېشه يو ځائے هم خندلي هم ژړلي
اوس به څوک ګورم خندا له اوس به څوک ګورم ژړا له

نۀ دې سرته ټېلفون شته نۀ دې ور نۀ دې کوځه شته
زۀ دې څۀ رنګې خبر کړم د خپل زړۀ د حال احواله

ستا اروا مړه وه يا ره لاس دې تش وۀ خو نواب وې
ستا شړې دا سې شړې وه چې غوريزه وه د شاله

د تيارو د سر دښمن وې تۀ رڼا وې تۀ شعور وې
تا به څنګه سړے هېر کړي د پښتون د کور مشاله

اوس دا ژوند دے جنجال شوے سحر يو غم ماښام بل غم
خدايه بس دے **زيار** هم واخله زيار هم خلاص کړه د جنجاله

۲۰۰۷-۴-۵

دریاب ډات نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

زړۀ کۀ مې وران دے کۀ ودان دے پکښې
دا ښار مې خوښ دے چې جانان دے پکښې

ډېر چې د زړۀ د سپرلي خيال ساتمه
ستا د يادونو ګلستان دے پکښې

چېرې به پرېږند م تيکرے د مينې
وې دې کۀ هر څومره تاوان دے پکښې

اسلام اباد همه بنګله دے
زما د زړۀ کورکے وران دے پکښې

دا وطن نور هم مخ په ښکته واخله
چې واک اختيار د ملا جان دے پکښې

جلال اباد په ربښتيا ښار د جلال
ځلے د ستر فخر افغان دے پکښې

د ژوند د بوختو سر ئې نۀ دے معلوم
خو **زيار** ولاړ نۀ دے روان دے پکښې

۲۰۰۷۱۵

ketabton.com - The Digital Library

## خوب

هغه وخت په شواروز کېنې
لږ ساعت شم خوشحاله

کله پوهه چې په ځان شم
چې اوس خوب راغلے ماله

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## غمونه

بس غمونه دي غمونه
چې د زړۀ نه مې چاپېر دي

زۀ د کوم کوم ذکر وکړم
يو دوه نۀ دي بلا ډېر دي

ketabton.com - The Digital Library

# سندره

زما جانانه مرور جانانه
بس دے پخلا شه راشه
بېلتانهٔ ډېر کړم در په در جانانه
بس دے پخلا شه راشه

ooo

زهٔ د اما د کما وګرځېدم
سترے شوم ډېر سترے شوم
په هر قدم هره ساه وډرډېدم
سترے شوم ډېر سترے شوم
نهٔ شوم د کور نهٔ د سنګر جانانه
بس دے پخلا شه راشه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ooo

د هر یو دار د پاسه وډرډېدمه
هر درد ته غاړه وتم
د هر ګړنګ د سره ولوېدمه
هر درد ته غاړه وتم
ډېر خه مې یوړهٔ په یو سر جانانه
بس دے پخلا شه راشه

ooo

ketabton.com - The Digital Library

زۀ پـه معنـیٰ د ژونـدون څـۀ پوهېـدم
یــو لېــونـے ســړے وم
دا خـو اوس پوهـه شـوم چـې نـۀ پوهېـدم
یــو لېــونـے ســړے وم
نــۀ وم خبــر نــۀ وم خبــر جانانــه
بــس د ے پخـلا شــه راشــه

ooo

ستا نـه بغېـر چـې ځـم پـه کومـه لاره
ځــان لــه پېغــور ورکــووم
ځــان لوګــوم اخــر د څــۀ د پــاره
ځــان لــه پېغــور ورکــووم
تــل یـم د ځـان سـره پـه شـر جانانـه
بــس د ے پخـلا شــه راشــه

ooo

ژوند بې لـه یاره پـه ژوند نـۀ د ے حساب
زۀ پــــه دې ورســـــېدم
هم ئې سحر هم ئې ماښام د ے عـذاب
زۀ پــــه دې ورســـــېدم
کرښـې لـه زیــار راوړ ے سـر جانانـه
بــس د ے پخـلا شــه راشــه

دریاب ډات نېټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

## درې شعرونه

بې لـه دردونـو چـا راكـړي څـۀ دي
كۀ څوك زبادي په ما بـه څۀ زباد كړي

په خپله خوا كښې ئې هم هېر يم اكثر
بيـا چې لانـۀ يم مـا بـه څـۀ يـاد كړي

د زيـار خبـرې ځـان تـه ډكـې نـۀ كـړي
**زيار** چې لګيا شي بلا بوس باد كړي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## يو شعر

په دې تكه توره شپه كښې **زياره** ډېر د ے
چېرتـه يـو اور كـے كـۀ هـم ښـكاره شـي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

زما د زړۀ په کور کښې ډیوه بله کړه راځه
بهر توره تیارۀ مې د ګوګله کړه راځه

د ذات د ښادې ورځې په تکل ورکه لالیه
د مینې د دردونو لاره خپله کړه راځه

اختیار چې ستا د مخ پکښې هم ستا نۀ دے د بل دے
اشنا کده راپورته د کابله کړه راځه

چې تۀ پرې قدم کېږدې ډېر تندې به ورله راشي
بې بخته بختوره مې درشله کړه راځه

د مینې روایت دے څۀ پېغور ترې نۀ جوړېږي
د نۀ راتللو خبره دې بدله کړه راځه

د مینې په ټیکرې د سر بایللو وخت راغلے
اے **زیاره** جوارګره پاخه هله کړه راځه

۲۰۰۱/۵/۱۹

ketabton.com - The Digital Library

ooo

څهٔ وکړم چې وخت او شپې منلې دي
ما خو پرې خپل تېل باتې سېزلي دي

مهٔ کوه غرض په پرهرونو مې
ډېره موده پس په خوب ورغلې دي

هغه چې د مینې په نوم مستې وې
هغه قافلې خو وخت لوټلې دي

څوک کوي تپوس دلته د خرو په ځائے
خلکو کولالان خواران داغلې دي

ketabton.com - The Digital Library

کور کنډر دې سر وخوري په مينه کښې
ما د خپله سره هم دانګلي دي

هغه وخت مې ځان له ياده وتے دے
کله چې يادونه ستا راغلي دي

ما وفا د غاړې تعويذ کړې ده
تا بې وفائۍ په ښو نيولي ذي

نۀ لري د مينې د خمار مزه
ما بنګاوې، چرس او شراب څښلي دي

هسې ورته لاړې د دار مۀ ساته
**زيـاره** ستا ياران په بله تلي دي

DARYAAB.NET دریاب ډاټ نیټ

ketabton.com - The Digital Library

ooo

هم دې خلاص کړمه په خپله د وزره
هم لاوائي ځه چې والوزو په بره

په دښمن مې دې هم دا کاڼې ونه شي
دا چې وشوې د امو نه تر خيبره

دا لاڅنګه وروروليي ده نه پوهېږم
چې زما برخه کيڼنه ده ستا غوره

ستا د مينې په سر مرګ خو باچايي ده
لېونے يم چې به اغوندمه زغره

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

په هغې ګناه کښې تول عمر کړېږم
چې مې نۀ ده په خپل ژوند کړې د سره

په دې کلي کښې يارې کۀ دښمنې ده
چې مې کړې تل مې کړې ښۀ په نره

ځان ته غره چې پوه نۀ شي په خبره
بيا زما هم بل څۀ نۀ زده بې د شره

دغه خلکو دې تل کړي ګناهونه
دا وېرېږي چې بې درېغه د محشره

د ولاړو کۀ راپرېوځې هغه خبر دے
زياره پرې مۀ وځې د خلکو د نظره

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

داسې نهٔ یم چې په ګڼه کښې غوري یم
همېشه تلے په پل د منزري یم

چې ئې تل کړي د اور سره دي لوبې
زهٔ وګړے د یو داسې انغري یم

یو د مینې باب مې لوستے په زور زېر د ے
نور په هر څهٔ اوربدلے سرسري یم

پټې سترګې ستا په غبرپسې روان یم
پته نښته په لړي که په بري یم

لاتر اوسه دې په دې هم پوهه نهٔ کړم
چې مالک یم د دې کور که کنډري یم

چې کال پس هم شي راغبرګ شکر اوباسم
اړولے خدائے په داسې هر دري یم

د لطیف لالا، دریا بابا د مخه
زهٔ مئین زیاره په هر یو خبري یم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دا چې جانان وعده پیا بیا ماتوي
لکه چې زړه مې خامخا ماتوي

یارانو راشئ ما له داد راکړئ
د بېلتانه پېتې مې ملا ماتوي

زه د رښتیاو نه وانه وړېدمه
خوله به مې دا خل په رښتیا ماتوي

دغه یو څو څاڅکي زما د اوښکو
تنده به څنګه د صحرا ماتوي

زه د دې وخت په نیت پوه شوې یمه
ستا د غرور نشه په ما ماتوي

داسې بل نشته خدایه اوس به سرې
مینه په چا د صاحب شاه ماتوي

زیار سپېلني اخلي د څه دپاره
دلته به څوک نظر په چا ماتوي

دریاب ډاټ نیټ DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

## پې وسې

تا به زۀ کوم کوم ته بخښمه نیشت نیمګړي ژونده
د زړۀ لوټې شوے وطن ټول ارمان ارمان پروت دے

زۀ به په چا ، چا پسې ځمه چې تپوس تړې وکړم
یو نه یو تار مې په هر کور کښې د ګریوان پروت دے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## وعده

دا وخت کۀ هر څو لوظ ماتے وخت دے
خو ما دې کړے نۀ دے شک په وعده

جګه شمله ګرځم په کلي کور کښې
په دې یقین چې تۀ ئې کلک په وعده

ketabton.com - The Digital Library

ooo

موندږ ته یو دي کۀ پرون وۀ او کۀ نن دے
په قدغن کښي اوسېدو او لا قدغن دے

اوس خبرې د ټوپک په ژبه کېږي
اوس ترلے هر سړي په سر کفن دے

خوب به څنګه راشي څنګه به اوده شم
وينې وينې، زخم زخم مې وطن دے

څۀ چې خان له غواړم بل له ئې هم غواړم
بس هم دا مې سادګي ده دا مې فن دے

زۀ دې اوس هم لاړ ته ګورم چې به راشي
کۀ څوک بل څۀ درته وائي دروغژن دے

هغه زۀ چې د مستئ نه لېونے وم
هغه عمر مې تېر شوے د جوبن دے

چې مئين دے ويره نۀ لري په زړۀ کښي
ګڼي **زيار** خو د بلا خلکو دښمن دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

ښاپېرۍ مې د خوبونو په لړزان ده
باچايي په ټول وطن د توراباڼ ده

د مرغۍ وينه که توېږي شي هم خپه شم
د انسان وينه خو بيا هم د انسان ده

لا په کر کرونده پايم نور څۀ نشته
لا زما نصيبه اوس هم په اسمان ده

لاس دې مۀ نيسه ارمان دې پاتې نۀ شي
لا يوه رېښنه مې پاتې د ګرېوان ده

دا په زړۀ چې مې د غم ورېځې ګرځي
علامه زما د اوښکو د باران ده

لا د زړۀ دنيا مې نۀ ده نوره شوې
لکه وه چې به اوس هم ستا په ارمان ده

د سود خيال بۀ زړۀ ته نۀ راپرېږدې **زياره**
د جانان د ګټې لوبه په تاوان ده

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نــهٔ پــوره روغ نــهٔ لېــونے دے
زمــا جانــان ناشــنا ســړے دے

ســتا د نظــر د غــشو ځــار شــم
ځيگر مې تول سورے سورے دے

د جانـــان غــم د زړ نـــه دي پاتې دے
اوړهٔ اوړهٔ زمـــا زړگـــــے دے

چيرتـــه چـــې ځـــم بــارود الـــوزي
دا وطـــن تـــول لـــوگے لـــوگے دے

وېرېـــږه مـــهٔ بــل خـــوا بـــه نـــهٔ ځـــي
زړهٔ مـــې نـــهٔ وهٔ نـــهٔ هـــر درے دے

نهٔ پـه کـبنې گـل او نـهٔ مـستي شـته
دا ســـرنے خنگـــه ســـپرلے دے

د بـــد نظـــر دې لاس ازاد وي
چې **زيار** لـرم **زيار** سـپېلنے دے

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

څه له دې راوبلم زما په لاس کښې څه دي
اوښکې او سلګۍ مې اثاثې د ژوندانه دي

نيت دې جوړې کړے د وعدې د ماتولو
نېغ چې راته نه ګورې پرېوتي دې بانه دي

خدايه چېرته خړه نه ې د مخ آئينه نه شي
خولې له مې راغلي اسويلي ساړه ساړه دي

څنګه به مې ژوند نه وي زېبر ګي زېبر ګي فرياد فرياد
غرونه د غمونو مې د زړه په سر پراته دي

په هر اړخ تالاشو خو څوک ساه په زوره ناخلي
خلک زه حېران يم دا په څنګه خوب اوده دي

مه خوره قسمونه په دروغه درېسي به شي
لاس دې لا تر اوسه د خالق په وينو سره دي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

مینــه او وفــا چـــې د چــا هېــره ده
شــوې لــه هغــوي نــه مــې تــل وېــره ده

بل کهٔ څوک په کښې وي راشه وګوره
ایـــښې مـــې د زړهٔ خونـــه برڅېـــره ده

مــهٔ راټولــوه ټــوټې ټــوټې زړهٔ مــې
وتـــې ئـــې څېـــره د کوشـــېره ده

غــاړه ورکــول او دا زړهٔ مــوړے وخــت
هــسې کــهٔ را وګــورې هــم ډېــره ده

DARYAAB.NET

مــونږ چــې بــه ټالونــه اچــول پکــښې
وخـــت راغورځــولې هغـــه بېـــره ده

یــاده پــښتونخوا پــه چینــو یخــوه
اور کـــښې د تـــودو اوبـــو راګېـــره ده

**زیاره** چې په تنګ ئې مړ وې ټول عمر
اوس دې هغــه هــم د ســـره تېـــره ده

ketabton.com - The Digital Library

زۀ او غم یو کۀ ماښام دے کۀ سحر دے
لویه خدایه دا ازار دے که نظر دے

څوک پوځي دے کۀ ملا کۀ بل څۀ شے دے
د اولس د غمه هر یو لاس په سر دے

خلک ټول زړۀ ماتي شوي قلار ناست دي
ټکولے مې د یو یو سړي ور دے

دریاب ډاټ نیټ

دلته هغه سړے مهر په خولۀ ګرځي
څوک چې سترګې لري څۀ نه څۀ خبر دے

DARYAAB.NET

لاړ به شي خو په درشل ئې چاته نۀ ږدم
دا د ننګ او د پښتو د غرور سر دے

شیخه چا درته وئیل چې غلط ګرځه
اوس چې غم درسره دومره د محشر دے

نور څۀ نشته خو رښتیا مې له خولې اوځي
خلک وائي **زیار** په اوتو بوتو سر دے

ketabton.com - The Digital Library

ooo

دا خـو بـه د ژونـد لـه سـتانې پاڅمـه
خدائے مۀ کړه کۀ ستا له کوځې پاڅمه

ستا پـه لـوري ځـم پـه بلـه نـۀ ځمـه
زۀ پـه اودو هـم کـۀ د شـپې پاڅمـه

دومـره دمـه پـړنم پـه يـخ سـيوري
وچـې مـې لانـۀ وي خـولې پاڅمـه

راشـم تـا لـه تـل د خنـدا ډکـه خولـۀ
بېرتـه چـې ځـم سـترګې لونـدې پاڅمـه

پـروت مـې دې پـه سـر د بېلتانـۀ پېتـے
مـلا تـه لاس کـړم پـس لـه هغـې پاڅمـه

وخت چې د تنګ راشي، رانۀ هېرې شي
زيــــاره د جانـان نـاکړدې پاڅمـه

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

اوبۀ کۀ والوځي هم بېرته سمندر له راځي
هر خوا کۀ لاړشي زما فکر پېښور له راځي

د تندکونو شمار هم نشته څواني هم تېره شوه
سول به مې خدائے خبر په څۀ او کله سر له راځي

زۀ بې هنره ساده لاړ ته د وخت ځله ګورم
وخت په راتلو راځي بې شکه خو هنر له راځي

يو نه يو تن د خپلې دې بې واکه خولې دلاسه
ګيله راوړي هره ورځ يا راپسې شر له راځي

ketabton.com - The Digital Library

تلوسه د غسي لرم چې د رخم ستا کلي ته
لکه مزدور د کراچۍ نه چې اختر له راځي

په راتلو اوس هم هغه دلته راځي ډېر ډېر راځي
خو زه پوهېږم ما له نه راځي چکر له راځي

چې د سنګر تودې سرې راسره نه قبلوي
څه پرې کووم که خلکې مې خبر خبر له راځي

زه شکي زړه نه ؤم، مات مې تجربو کړه يقين
شم په دوه زړه کښې چې مې څوک هم د زړه ور له راځي

وخت که دا ځينې خلک ډېر هم زورور کړه **زياره**
خو زما اوس هم خدائے ګواه دے که نظر له راځي

DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

ooo

لکــه ســړے چــې توبــه اوباســي او جــام اخلــي
داسې په نيم زړۀ مې بې لوظه يار سلام اخلي

هـر چا تـه پتـه ده چـې دا کوڅه ازغـي ازغـي ده
څوک چې هم دې پله راځي قدم په پام اخلي

چـې ستا لـه بامـه ورتـه کېږي اشـارې جانانـه
څوک لېوني نۀ دي چې بل طرف ته ګام اخلي

دریاب ډاټ نیټ

د ياد څواني دې خدائے تر عمره عمره تانده لره
زما دا ستړے ذهـن ترې الهام اخلي

DARYAAB.NET

پـه دې چـې نـۀ ژاړم نـو اووايـئ پـه څۀ بـه ژاړم
خلک خوشحال غونډې سړے ناخلي بهرام اخلي

دا چـې اورونـه لګـوي پـردي کورونـه سـېزي
نـن کـۀ سبا لـه وي خـو اور بـه دغـه بـام اخلـي

**زياره** پـه کومـه طمعـه خولـې تـه د جانـان ګـورې
هغـه پاګـل نـۀ دے چـې نـوم بـه د بـدنام اخلـي

ketabton.com - The Digital Library

ooo

هـــر غـــم تـــه ولاړ ئـــې زهٔ اول يمـــه
وخت چې شي د سـود اخيـرے تـل يمـه

اوس مې يقين راغے اوس شوم پوه په ځان
خلـــک دروغ نـــهٔ وائـــي پاګـــل يمـــه

راشه اوس کهٔ سر مې څوک رابنکته کړي
زهٔ خـــو دې راغلـــے تـــر درشـــل يمـــه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

نـــن خوبونـــه هـــم د بادشـــاهۍ ويـــنم
نـــن ئـــې اودهٔ شـــوے پـــه ځنګـــل يمـــه

کـور مې پکښې ګټې لوټې پـروت د زړهٔ
خدايـــه مئـــين بيـــا هـــم پـــه کابـــل يمـــه

ســر مـــې پـــه چورلـــک زړهٔ مـــې اوړهٔ اوړهٔ
زهٔ د ببلتانـــــهٔ پـــــه ژرنـــــده دل يمـــــه

تـا چې هـم وهٔ نـهٔ پېژنـدم شـک مـې شـهٔ
زهٔ جـوړې **زيـــار** نـهٔ يمـه څـوک بـل يمـه

ستمبر ۱۹۹۴

ketabton.com - The Digital Library

ooo

هسې بس وایم، چې زۀ یم زۀ یم
نور خبر نۀ یم چې زۀ د څۀ یم

چې هم پسته وه، هم وه په واک کښې
زۀ غولېدلې په داسې خولۀ یم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

جانان لرم خو نوم یې نۀ اخلم
زۀ په شته زړۀ کښې داسې بې زړۀ یم

بېلتون دې نۀ دے، د ژرندې پل دے
زرې زرې یم، اوړۀ اوړۀ یم

ketabton.com - The Digital Library

یاره کۀ یم چا له به بد یم
ستا ... رې یم، تا له خو ښۀ یم

... وره نۀ مرم، مرم په خبره
... ه وجود کلک یم، نرم په زړۀ یم

دریاب ډاټ نیټ

ستا نه بغیر ژوند په نیشت حساب دے

DARYAAB.NET

داسې ژوندے یم، لکه چې نۀ یم

درنګ له غور ځېږم، ځم فنا کېږم
اتښتې اوښکه ستا په بانۀ یم

چې پکښې خوب هم لیدل ګناه ده
دا لا په کوم خوب **زیاره** اوده یم

ketabton.com - The Digital Library

ooo

ځـه چې زړۀ لـه مـې راغلـي هغـه تـل دي مـا وئيلـي
نتيجـه بـه ئـې څـه خبـرژي دې تـه نـۀ مـې دي کتلـي

د حجرې زور ئې اوبۀ کړۀ د جومات ملائې خان کړۀ
دا د کـوم ځـائے هـوا راغلـه د پښتون پـه کلـي کلـي

د پښتون د ننـګ پـه لاره د دې خـوږ وطـن د پـاره
څـوک کـۀ هسې خوږېدلي مـا د سـره هم دانګلـي

د بڼونـو، د سـيندونو، د ګلونـو خـاوره پرېـږدي
په پردو دشتو کښې زغلي تول زمـا د وطن ښکلي

بـد روحونـه ځي روان دي د اسمان روئيـې نيـولے
سپوږمۍ ځکه وارخطا ده ستوري ځکه غلي غلي

اے زړګيه خوره ئې خوره ئې چې څۀ وي هغه بـه کېږي
خدائے غمونـه د بې وسـو تول پـه تـا پسې ليکلي

نۀ ئې زهر کړم نۀ مې زهر کړۀ يو ارلېچې پـه برلېچې
زۀ او غـم يـو **زيـاره** دواړه خدائے پـه يـو کـانې تللي



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ketabton.com - The Digital Library

## SELF- RESPECT

زړۀ مې د هرې ونې سيورې ته ښۀ کړے نۀ دے
خوښ يم کۀ ژوند مې تېول په تېوله په غرمو تېر کړۀ

په جام کښې مخ د پښتنې غرور چې ونۀ وينم
مرم کۀ يو ګوټ مې هم د دغسې اوبو تېر کړئ

دریاب ایبزین
DARYAAB.NET

## د تـــاريخ پـــاڼې

ما همېشه وهلې خپلې پښې د بل په تبر
زۀ چېرې هم د ځان د پاره جنګېدلے نۀ يم

تل اوړېدلے په هوښيارو دښمنانو يمه
د زړۀ په غلا زياره د يو هم پوهېدلے نۀ يم

ketabton.com - The Digital Library

ooo

نخښتې د ژوند او د سيالۍ ماتېږي
راشئ رباب، منګې، شپېلۍ ماتېږي

خم چې مې تش ليدئ ژړل مې ورته
اوس خو لا اورم چې پيالۍ ماتېږي

زما په بل چا سترګې نۀ خوږېږي
مينه مې يو په شين خالۍ ماتېږي

د غم خبره ده چې زور د حجرې
په ډنګ سرود او خوشحالۍ ماتېږي


زما د زړۀ د للمې خوار نصيبه
ستا پشکال هم په ګلۍ ماتېږي

زما د زړۀ فولاد نښترې
اوس په نرۍ غوندې سيلۍ ماتېږي

**زياره** چې کلک وۀ د سندانه چېرې
اوس هغه زړۀ په ترنګولۍ ماتېږي

۲۰۰۸/۴/۳

DARYAAR.NET



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

کۀ دي پـه سـر کـښېږدي د شـکونو سـېلۍ نۀ الـوځي
زمـا د لاس ګـلاب دې ولـې لـه کـمڅـو پرېـوځي

دې ځني خلکو ته په هیڅ ځانونه بد نۀ ښکاري
د چـا پـه پـښو چې هم پرېـوځي پـه نخـرو پرېـوځي

هره ورځ نـوې جنجال نـوې غـم راوړي چې راځي
ځکـه مـې زړۀ اکثـر د لمـر پـه راختـو پرېـوځي

داسې په څخ څخ مې په زړۀ کښې ارمانونه سوزي
لکـه پـه تـود انغـري څـاڅکي د اوبـو پرېـوځي

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*